شریعت

اوونیزه

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحریك مرکزی نشراتی ارګان

دوهم کال اتمه ګڼه پرله پسي (۵۸)

چهار شنبه د۱۳۷۵ هـ ش کال د حوت دمیاشتي (۸)

د۱۹۹۷میلادي کال فبروري (۲٦)

د۱٤۱۷هـ ق کال د شوال المکرم (۱۹)

حضرت رسول اکرم «ص» ابو ذر «رض» ته وفرمایل :
اي اباذره د نیکو کارونو نه یو هم کم مه ګڼه که څه هم خپل مسلمان ورور سره په خلاص تندي مخ کیدل وي .

(مشکوة)

بیشکه هغه کسان چه دوي د یتیمانو مال په زور او ظلم سره خوري په حقیقت کي خپلو ګیډو ته اور رور اچوي او زر ده چه وبه رسیږي دوي سخت عذاب ته

ژباړه (النساء -۹)

د افغانستان د اسلامي دولت د سرپرستي شورا رئیس محترم الحاج ملا محمد رباني د ورزشکارانو ورزشي نمایشات وکتل

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ ملي لوبغالي ته د سرپرستي شورا د محترم رئیس د رسیدو په وخت کي د ورزشکارانو لخوا ده دروند استقبال وشو . پدي وخت کي د غیري نیوني ، سوك وهلو، جیډو ، کانفو، د اندامونو د پالني ، جمناستیك ، لیك بوکس او د کنفو، او دکنفوتوا د ورزشي ټیمونو لوبغاړو په زړه پوري ورزشي نمایشات اجرا کړل چي په هره برخه کي د ورزش د تاریخچي په باره کي معلومات وړاندي شـول باید وویل شي چي د المپیك ملي کمیټه د هیواد په سطحه اتلس ورزشي فدراسیونو ته لري چي ورزشکارانو یي په ملي او نړیوالو لوبو کي د ورزش ستري ویاړني ګټلي دي

در نتیجه عملیات تصفیوي به صد ها میل اسلحه ثقیل و خفیف به دست نیرو هاي اردوي اسلامي افتید

آژانس اطلاعاتي باختر گزارش داد در نتیجه عملیات تصفیوي اسلحه که در ولایات کابل، لوګر، پکتیا، لغمان پروان، کاپیسا، کنر و فراه بتاریخ اول دوم، چهارم و پنجم حوت صورت گرفت ، توپ۸۲ و ۷۵ ملي متري ۳۵٦ ضرب، راکت اربي جي، ٤۵ قبضه، بي ام ۱۲ یك دستگاه ، ماشیندار پیکا ۵۵ میل، ماشیندار ص(٤)

د ننګرهار ولایت د مهمندرې په ولوالي کي یو کتنځي پرانیستل شو

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په هغو مراسمو کي چي له همدي امله د ننګرهار ولایت د مهمندري په ولسوالي کي جوړ شوي و اوردي ځاي ګي شمیر اوسیدونکو په کي برخه اخیستي وه ددي کتنځي امر محترم ښك محمد ددغه کتنځي د ارزښت او اهمیت په باره کي خبري وکړي او د M.S.F موسسي د همکاري له امله چي ددي کتنځي په جوړولو کي یي هلي ځلي کړي وي مننه وکړه . پدي کتنځي کي دولس تنه ډاکتران او طبي پرسونل فعالیت کوي او د کتنځي پنځه کلن لګښتونه د M.S.F خیریه موسسي په غاړه اخیستي دي .

د هیواد په مختلفو برخوکي د اسلامي دولت د ملاتړ لپاره غونډي جوړي شوي

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په هغو غونډو کي چي له همدي امله د کب په لومړي نیټه د کابل ښار په لیسي حوزي د سلواغي د میاشتي په دیرشمه په جبل السراج ، د کب په دوهمه په ننګرهار، کونړ او فراه ، د کب په څلورمه د خوست د ولایت د ګریز په ولسوالي، د کب په څلورمه د پروان او کاپیسا په ولایاتو کي او د کب په پنځمه د پکتیا ولایت د ځاځي اریوب په ولسوالي، د کب په شپږمه د کابل د استالف په ولسوالي او دشت برچي کي جوړي څلورم مخ

وزیر سرپرست وزارت مخابرات در سمینار امرین مخابرات مرکز و ولایات گفتند :

سکوت مخابرات سکوت جامعه تلقي میګردد

ما میخواهیم که سیستم مخابراتي کشور خویش را با تخنیك جدید و عصري، موافق با طرح و ستندرد هاي جهاني عیار سازیم

معین اداري وز ارت مخابرات

سیستم مخابرتي کشور طي سالهاي اخیر بالغ به (۳،۵) میلیارد افغاني (قیمت تمام شد وقت) خساره مند ګردیده است

رئیس پلان وزارت مخابرات

خبرنګار هفته نامه «شریعت» از جریان سمینار آمرین مخابرات بخش هاي مرکز و ولایات کشور ګزارش مي دهد : سمینار متذکره که به منظور باز سازي و احیاي مجدد خدمات مخابراتي، از جانب هیئت رهبري وزارت مخابرات دولت اسلامي افغانستان، با اشتراك (٦۰) تن از رؤسا و مسؤولین بخش هاي مخابراتي، براي مدت سه روز در هوتل «اتفاق» راه اندازي شده بود ، عصر روز سه شنبه خاتمه یافت .

ص(٤)

د کابل ښار په دریمي ناحیي پوري مربوط دده بوري د ماشومانو د لوبو پارك پرانیستل شو

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په هغي غونډه کي چي له همدي امله په دغي سیمه کي جوړه شوي وه د کابل ښاروالي یو تن مسؤول د ماشومانو د مشغولتیا لپاره ددغه شان پارکونو د بیا جوړو ني د ضرورت په باره کي خبري وکړي ص(٤)

اثریکه قدامت تاریخي آن به قرن ٦-۷ ق.م بر میگردد بدست آمد

تثبیت قدامت تاریخي این اثر غناي بزرګ تاریخي را نصیب کشور ما مینماید

خبرنګار هفته نامه «شریعت» از قول یك تن از مسؤولین موزیم خبر میدهد : یك اثر باستاني که اخیراً بوسیله مسؤولین امنیتي کشور بدست آمد، بعد از تحقیق و مطالعه، علمی یکي از کتیبه شناسان مشهور دنیا (پروفیسور داني) معلوم ګردید که این اثر...

د کرهڼي وزیر محترم مولوي محمد نسیم اخوند زاده له شریعت سره په مرکه کي :

پنځوس زره مثمر او پنځویشت زره غیر مثمر نیالګي مو کروند ګرو ته ورکړیدي او د لس میلونو نیالګیو تخم مو اوس کرلي دي

د هزار جریب، فلاحت ، بولان، کورګین، کوکران، پام ترنك، جنګل باغ ، تیره باغ بادام باغ، قرغه، ریشخور، ده دانا، واصل آباد فارمونه ترمیم شویدي

سږ کال ۲۳۹۰۰۰ ټنه تازه میوه بهر ته صادر شویده

د څنو ضروري موادو له اړخه اسلامي دولت اوس هم غني او په ځان وياډي

درنو لوستونکو څرنګه چي د پسرلي موسم په را رسیدو او د کرهڼي وخت دي موټر په دي خاطر چي دي موضوع ته مو په خپل وخت د اړونده مراجعو پام را اړولي وي د کرهڼي له وزیر محترم مولوي محمد نسیم اخوند زاده سره مرکه کړیده چي ستاسي محترم حضور ته یي وړاندي کوو .

پوښتنه : لطفاً ځان د شریعت اوونیزي لوستونکو ته معرفي کړي او هم وواییي چي په کومو جبهوکي مو عملي جهاد کي برخه اخستي ده .

ځواب : زما نوم محمد نسیم اخونزاده د شهید مولوي محمد قاسم زوي د کندهار د ولایت اوسیدونکي یم د کمونیستانو د کودتا په وخت کي مراهق وم چي د خپل محترم پلار د امر او هدایت په اساس، چي په ۱۳۵۸ کال کي زباني او عملي جهاد پیل کړ .

څنګه چي د جهاد په پیل کي پولو جهادي مشرانو او قاندینو د روسانو او د هغوي د مزدورانو په ضد سپیڅلي جهاد کي ونډه درلوده او د خپل هیواد د حریم نه یي دفاع کوله نو پول راته محترم وو نو له همدي کبله مي د پولو تنظیمونو په جبهو کي عملي جهاد کړیدي خو پر وخت مي له حزب اسلامي، اتحاد اسلامي، او حرکت انقلاب اسلامي سره تیر کړیدي او د ۱۳٦٦ هـ ش کال نه را پدیخوا تر څلورم مخ

د شعر او ادب مینه والو ته خبرتیا

د شریعت اوونیزي اداره په نظر کي لري چي د پسرلي د تازه او ګلورین موسم په راتلو چي الحمد لله سږ کال یي د ډیرو امیدونو غیږي هم غوړولي او د ورمو خوشیو یي لا تاندي دي په مناسبت د ۱۳۷٦ د حمل په لمړي نیټه په کابل کي، د شریعت اوونیزي په دفتر (وزیر اکبر خان پوولسمه کوڅه ۵۲۰ کور)کي یوه لویه مشاعره ترتیب کړي نو د هیواد په داخل او خارج کي ټولو ادیبانو او شاعرانو ته بلنه ورکول کیږي چي په خپل ګډون دي محفل ته لا ښکلا ورکړي .

د شریعت اوونیزي مسؤول مدیر د سره صلیب نړیوالي کمیټي له مطبوعاتي استازي سره وکتل

دشریعت اوونیزي مسؤول مدیر محترم الحاج مولوي عبدالرحمن احمده هوتکي» په داسي حال کي چي دي اوونیزي سیاسي مبصر قاضي محمد حسن «حقیار» هم حاضر و د سره صلیب د نړیوالي کمیټي له مطبوعاتي استازي ښاغلي ژان لرك پلادیني سره وکتل پدي کتنه کي چي د شریعت اوونیزي په دفتر کي تر سره شوه په مطبوعاتي چارو کي د ګډي همکاري او ګنو نورو د علاقي وړ موضوعګانو په هکله بحث او د نظر تبادله وشوه .

ارتباط پوستي بین کابل و کشور هاي جهان تامین ګردیده است

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد: در اثر سعي و تلاش وزارت مخابرات اخیرا ارتباط پوستي خطي بین افغانستان و کشور هاي جهان تامین ګردیده است که تعداد زیادي از پوسته هاي زمین صادره کشور هاي جهان عنواني افغانستان به پسته خانه مرکزي مواصلت نموده و آماده توزیع میباشد .

همچنان ارتباط پوستي از طریق فضا و زمین بدون وقفه بطور نورمال به کشور هاي جهان جریان دارد .

سه عراده موتر و مقدار اموال دولتي که قبلاً به سرقت برده شده بود از مربوطات ولایت کاپیسا بدست آمد

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد به اثر سعي و تلاش موظفین امنیتي ولایت کاپیسا اخیرا سه عراده موتر نوع کله فیل تانکر آب، تکسي، و دوپایه جنراتور و پنج پایه یخچال که در زمان حاکمیت شر و فساد از مربوطات ولایت متذکره سرقت ګردیده بود توسط منسوبین بیدار تحریك اسلامي طلبه هاي کرام کشف و بدست آمد و به ادارات مربوطه خویش تسلیم شد .

د صفیه صدیقي د شعرونو دوهمه مجموعه(نالوسته کتاب)چاپ شو

د پښتو معاصر ادب د کاروان د نومیالي لاروي (صفیه صدیقي) د شعرونو دوهمه مجموعه (نالوسته کتاب) چاپ شو دا کتاب چي په پښتوٌ یي جالب انځور کښل شوي په ښکلي کچ او صحافت په اعلي کاغذ د خوشال فرهنګي ټولني لخوا زرګه ټوکه خپور شوي . د پښتو ادب څو تنو تاریخه او ښځمنو وتلو او پیژندل شویو څیهرو پري تقریظونه او کتن لیکونه لیکلي دي نالوسته کتاب چي په همدي ورځوکي له چاپ نه راوتي دي د صفیي دوهمه شعري مجموعه ده باید وویل شي چي د هغي لمړي شعري مجموعه « لوږه » په ۱۳٦٦ هـ ش کال کي خپره شویده . ددي کتاب په لوستلو انسان پوهیدلي شي چي اسلامي انقلاب زموږ د ځوانو شاعرانو په شاعرانه احساس څومره مثبت اغیز کړیدي د صفیي شعرونه د افغاني مسلمانانو او با عصمتو خویندو د احساساتو ترجمان او

څلورم مخ

په بادغیس کي د دښمن یوه جیټ الوتکه راوغورځول شوه

د باختر د اطلاعاتي آژانس د خبر له مخي په دي ورووستیو وختو کي د بادغیس ولایت د تورجر په سیمه کي د دښمن یو جټ الوتکه راوغورځول شوه . دغه الوتکه چي غوښتل یي پدي سیموکي بمبارد وکړي د اسلامي اردو د مجاهدینو له خوا له ځمکي نه هوا ته د توغندي پواسطه را وغورځول شوه .

خبر ځاي زیاته کړه دغه الوتکه د هغي له پیلوټ سره یو ځاي سوځیدلي ده چي ددغي سوځیدلي الوتکي ټوټي د اسلامي اردو د مجاهدینو لاندي سیموکي پرتي دي

د آریانا نشراتي او طباعتي موسسي بیا په کار پیل وکړ

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ چه د اطلاعاتو او کلتور وزارت مالي او اداري معین محترم الحاج مولوي عبدالرحمن احمده هوتکي، د آریانا د نشراتي او طباعتي موسسي بیلابیلي برخي وکتلي .

ددي کتني په بهیر کي په داسي حال کي چي د دولتي مطبعو رئیس محترم ملا محمد موسي هم حاضر و ددغي موسسي کار کوونکي او منسوبین یي د موسسي د کارونو د لا چټکتیا ، ښه والي او په خپل وخت د ورسپارل شویو دندو د تر سره کولو په لاره کي خپلو دیني او اسلامي دندو او مسولیتونو ته ځیر کړل .

د اطلاعاتو او کلتور وزارت محترم مالي او اداري معین دغه راز محترم الحاج ملا خیر محمد فضلي چي نوي د آریانا د نشراتي او طباعتي موسسي د رئیس په توګه ټاکل شویدي ددغي موسسي کار کوونکو ته ور وپیژاند او ده دغي موسسي کي په جنهکا وار و د سپارل شویو دندو په ترسره کولو کي د هر راز کار او فعالیت ژمنه وکړه .

یو مربوط خبر ځاي وویل د شر او فساد د رژیم د واکمني د کلونو په اوږدو او په تنظیمي جګړو کي د آریانا نشراتي او طباعتي موسسي ته د څه د پاسه دریو ملیونو امریکایي ډالرو زیان ورسیدلي دي .

په خوست کي دري زره مثمر نیالګي کښینول شول

د مڼو او زردالو دري زره نیالګي پدي وروستیو وختو کي د خوست ولایت د کرڼي د ریاست د منسوبینو لخوا ددغه ولایت په ځلو رویهونو کي کښینول شول

د باختر اطلاعاتي آژانس د خبر له مخي په دغو بڼونو کي بادام باغ ملي، شیر باغ، فارم باغ او مبلمه کوټ باغ شامل دي چي د روانو جګړو له امله له منځه تللي وو او ددغه ولایت د مسوولینو د هلو ځلو له امله بیا جوړ شول، او ددغه ولایت په نورو بڼونو کي هم د میوه لرونکو نیالګیو د ایښودلو لړۍ روانه ده .

ارتباط مخابراتي بین مرکز و ولایت خوست تامین ګردید

خبرنګار آژانس اطلاعاتي باختر از شهر خوست ګزارش داد : ارتباط مخابراتي و تیلفوني که در اثر جنګ هاي ذات البیني عناصر شر و فساد از چند سال به این طرف بین مرکز و ولایت خوست قطع ګردیده بود اخیراً در اثر توجه دولت اسلامي و سعي و تلاش ریاست مخابرات آن ولایت مجدداً تأمین ګردید .

در نظر است عنقریب ارتباط مخابراتي بین ولایت خوست و سایر ولایات کشور نیز تأمین ګردد .

د احمد شاه ابدالي د پوهنتون رئیس محترم الحاج پوهنمل مولوي شادګل رشیدي له شریعت سره په مرکه کي :

د احمد شاه ابدالي پوهنتون کي ۹۹۵ تنو محصلینو ته د ۵٤ تنو استادانو لخوا درس ورکول کیږي

قندهار ته د خپل سفر په ترځ کي مو د پوهنتون د اداري او تدریسي هیئت او محصلینو نیکي هیلي د اسلامي تحریك مشرانو ته وړاندي کړي

درنو لوستونکو ! د احمد شاه ابدالي د پوهنتون رئیس په مشرۍ یو هیئت چي قندهار او بیا کابل ته راغلي د شریعت اوونیزي خبریال ورسره لنډه مرکه کړیده چي ستاسو حضور ته یي وړاندي کوو .

پوښتنه :محترم رئیس صاحب لطفاً د احمد شاه ابدالي د پوهنتون د تأسیس بنسټیز هدف په هکله د شریعت اوونیزي محترمو لوستونکو ته معلومات ورکړئ

ځواب : لکه چي تاسي ته معلومه ده د هجرت او جهاد په محیط کي په سلګونه ځوانان وو چي د ثانوي دوري بري لیکونه یي تر لاسه کړي و خو د لوړو تحصیلاتو زمینه ورته مساعده نه وه همداراز زموږ په لسګونه علمي کدرونه وو چي په وطن کي د نا متناسبو حالاتو له کبله پیښور ته مهاجر شوي و او د علمي او فرهنګي خدمت په ارزو وو نو دوي وغوښتل چي له یو خوا دي هیلمنو ځوانانو ته د ذهني او فکري انحرافاتو زمینه مساعده نه شي او په علمي او اخلاقي زده کړو سمبال شي او له بلي خوا د بي روزګاري او بي کاري مخه هم ترېوه حده ونیول شي نو په خپل

څلورم مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

... نُصِرتُ بِالرُّعبِ مَسِیرَة شهر ...

پورتني جمله د هغه متفق علیه حدیث مبارك یوه برخه ده چي جابر رضي الله تعالي عنه له رسول الله «ص» نه روایت کوي چه هغه وفرمایل : ماته (د الله تعالي له لوري نه) پنځه شیان (د ابو هریره «رض» په روایت کي شپږ شیان) راکړل شوي دي چي مخکي له مانه هیچاته (هیڅ پیغمبر «ص» ته) نه دي ورکړل شوي، یو : الله تعالي دغه مرسته راسره کړي ده چي دښمن یوه میاشت مزل راته لري وي زما ویره یي په زړه کي پرته وي ...!

د همدغه حدیث مبارك مصداق دي چي د طالبانو د اسلامي تحریك مجاهدین تر اوسه پوري له سالنګونو او شیبر له غاښي څخه لا نه دي تیر شوي مګر د هیواد په شمالي او مرکزي سیموکي د شر او فساد ډلي، لوټماران او ملحدین خو لا پریږده چي له ویري نه یي هیڅ توخته نه کیږي بلکي روسان په ماسکو کي داسي ویري او ترهي اخستي دي چي هري خواته ترپکي وهي !

موږ دغه خبره د لویي او غرور په بنسټ نه کوو - نعوذ بالله تعالي- بلکي تحدیث بالنعمة او د الله تعالي د نعمتونو شکر ادا کوو چي الحمد لله د طالبانو په اسلامي تحریك کي په زرګونو داسي مخلصین شته

(۲مخ)

قیام ۳ حوت ۱۳۵۸ هـ ش شهریان کابل در تاریخ مبارزات ضد استعماري مردم کشور ما حماسی ترین مقطع تاریخ را تشکیل میدهد

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریک
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندي
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتکي»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کي (۱۲۰۰) افغانۍ
په پاکستان کی (۲) کلداری
پته : کابل وزیراکبر خان مینه /سرک۱۱/ کور (٥٢٠)
تیلفون : ۲۱۳۸۱ - توزیع او شکایات ٦٢٨٥٩
پوست بکس : (٤٧١)
په پیښور کي : دطالبانو نمایندګی / تیلفون: ۸٤٤٣٣۱-۸۱۸۱٥۷-۸۱٥٦۲۷

د سرمقالی پاڼې

چي هڅې کوي د رسول الله«ص» کامله اتباع او پوره پیروي په ځان کي پیدا کړي په تیره بیا د جهاد د سنګر په لومړیو لیکوکي هغه د اسلام د ډیوي پتنګان چي خپل ژوند، سر او وینه یې په الله تعالي باندي د هغه د رضا په بیه پلورلي دي نوځکه الله تعالي په خپل فضل سره د خپل محبوب پیغمبر «ص» د خصوصیتونو او ځانګړتیاوو ځني برخي په دوي هم پیرزو کړي دي .

روسان چي ځان د ړنګ شوي شوروي اتحاد وارث او قائم مقام بولي او نړي هم رسماً او عملاً عین هغه امتیازات ورکوي نو د دوي ویره د شوروي اتحاد له هغي دښمني او کړو وړونه ده چي له افغانانو سره یې په لس ګونو کاله کړي دي همدغه رنګه په شمال کي د دوي ګوډاګیان د شر ، فساد او الحاد ډلي له خپل هغه بد عمل او دښمني نه په ویره کي دي چي په کلونو کلونو یې له خپلو هیواد والو سره وکړه .!

په عین وخت کي روسیان له دغي طلایي موکي نه ددي خبري بهانې هم را لټوي چي د منځني اسیا په نیمه ازادو هیوادونو باندي خپله نیو که کلکه کړي، پوځونه ورنه راتاو کړي، پوځي مشاورین او جاسوسان ورواستوي، اقتصاد یې تهدید او د ازادي مړ ژواندہ روحیه یې په ستوني کي ورغاړ بوجنه کړي!

روسیانو ته موږ هم هغه مشوره ورکوو لکه چي خپل پوځي او سیاسي ماهرین یې ورکوي چي په شمال کي د شر او فساد او الحادي ډلو سره د دوي بي دریغه پوځي ، مالي او سیاسي کومکونه د دوي په ګټه نه دي، له دي پرته چي دغه ډلي هم سیا د دوي لپاره طوق لعنت شي نوره به هیڅ ګټه ونه لري لکه ځنګه چي پروني خلقیان او پرچمیان په مسکو او نورو ښارونو کي وریاندي اناوړ او د غاړي باردي چي «نه کور، نه کالي او نه ډوډي» لري کور خو لا پریږده چي د دوي د نامتو مشر خوارکي کارمل لپاره هلته ګور هم پیدا نه شو د روس له خاوري نه په ډېره بي عزتي سره وشړل شو .

موږ وایو روسیان ، ایران، هند او نور ګاونډي هیوادونه دي له موږ نه هیڅ ویره تر هه نه کوي ځکه د افغانستان اسلامي دولت نه دا هڅه کړي ده او نه په دي درشل کي دي چي د چا په کورنیو چارو کي مداخله وکړي ټول هاند او هڅه یې دا ده چي له غلو، شریرو اوفسادي ډلو او افرادو نه خپل هیواد او سیمه بي غمه، وسله را ټوله، امنیت ټینګ او یو پیاوړي مرکزي دولت جوړ کړي تر څو وکولاي شي خپل وران او ویجاړ هیواد ودان او خپل ځوریدلي مسلمان او مجاهد ملت ته خدمت وکړي!

موږ له ټولو ګاونډیو هیوادونو نه په کلکه هیله کوو: ددي پر ځاي چي له موږ سره دښمني وکړي، ددغه ملت د دښمنانو د تقویه کولو بي ځایه او بي ګټي هڅي وکړي د افغانستان اسلامي دولت ته دي د مرستي لاس اوغزوي او د راتلونکي ښه ګاونډیتوب ګډو اقتصادي او سیاسي همکاریو لپاره دي زمینه برابره کړي .

و من الله التوفیق والهدایة .

غرب و مشکل «عربهای افغان»

وحید «مژده» قسمت دوم

این مقاله منعکس کننده، نظر شخصي نویسنده آنست؛ که بخاطر احترام به آزادي بیان، آنرا به نشر مي سپاریم . موافقت اداره هفته نامه «شریعت» با مندرجات این مقاله حتمي نیست .

(اداره)

امریکایي ها نگران آن بودند که مبادا ایراني ها از طریق سازمان هاي سیاسي شیعه، پاکستان به این سلاح دسترسي یابند عارف حسین الحسیني رهبر تحریك نفاذ فقه جعفریه در پشاور بشکل مرموزي بقتل رسید و چند سال بعد خان عبدالولي خان رهبر نشنل عوامي پارتي پاکستان افشا نمود که قتل الحسیني به معامله، خرید ستینگر براي ایران در رابطه بود . اکنون استینگر نه در هوا بلکه در زمین قرباني میگرفت .

واقعه دیگري که در داخل افغانستان اتفاق افتاد نشاندهنده علاقمندي شدید ایراني ها به دسترسي به استینگر بود . انجنیر نسیم مهدي یکي از قوماندانان در فاریاب که رابطه، نزدیك با ایران داشت چند دستگاه استینگر را در تابوت جابجا نموده و قصد داشت به هرات و از آنجا به ایران انتقال دهد در مسیر راه یك قوماندان دیگر مجاهدین از گروپ مخالف بنام حفیظ ارباب راه را بر وي بست و استینگر ها را از وي گرفت . این مسئله نیز در رسانه هاي خبري منعکس گردید و نگراني امریکایي ها را تشدید نمود با شکست و خروج روسها از افغانستان امریکایي ها به هدفي که مي خواستند رسیدند و انتقام شکست خود در ویتنام را از روسها گرفتند . اتحاد شوروي از هم پاشید . اکنون زمان آن فرا رسیده بود که شخصیت هاي که در طول یك دهه در رابطه با جهاد افغانستان فعال بودند از صحنه بیرون رانده شوند، که از آن جمله بعضاً قتل جنرال محمد ضیا لاحق، جنرال اختر عبدالرحمن و سر انجام شیخ عبد الله«عزام» را از همین طریق میدانند ... «عزام» گذشته از سایر خصوصیاتي که بر شمردیم این توان و نفوذ و امکان را داشت که مانع استرداد استینگر ها به امریکا گردد . کسیکه امروز در مطبوعات غرب از وي بعنوان رهبر یك حرکت تروریستي اسلامي در جهان نام برده میشود خود در نتیجه یك پلان دقیق و حساب شده تروریستي که بدون شك صهیونیست ها نیز در آن سهم داشتند در پشاور همراه با دو پسرش به شهادت رسید .

از شخص دیگري که درین دوره در رابطه با معامله استینگر در مطبوعات غرب نام برده میشد اسامه بن لادن بود . اسامه یك ثروتمند تبعه، عربستان سعودي بود که اینك دولت سعودي او را از تابعیت این کشور محروم ساخته است اسامه در دوران جهاد به افغانستان آمد و بزودي جذبه جهاد وي را چنان مجذوب خویش ساخت که بزندگي مرفه پشت پا زد و حیات خود را وقف جهاد نمود . اسامه در دوران جهاد رهبري گروهي از مجاهدین عرب بنام (القاعده) را بعهده داشت اسامه بن لادن وقتي متوجه شد که هدف بعدي سازمان هاي تروریستي غرب است از پاکستان به سودان رفت و بنا به گزارش هاي که سال گذشته مسیحي (۱۹۹٦) در مطبوعات غرب به نشر رسیده او بعداً دو باره به افغانستان برگشت . بازگشت اسامه و جمعي از مجاهدین سابق غرب به افغانستان زماني صورت گرفت که مناطق شرق و جنوب کشور و نیز شهر کابل در تحت کنترول قوت هاي مختلف بود و حکومت مرکزي وجود نداشت . شوراي آن زمان که در جلال آباد حاکم بود به آنها اجازه بازگشت داد . مطبوعات غرب که همیشه چنین مطالب را با بزرگنمائي به نشر مي سپارند مدعي اند که آن دسته از «عربهاي افغان» که به افغانستان بازگشته و یا از قبل در اینجا بوده اند در مناطق دور دست و کوهستاني براي خود امارت هاي مستقل بنا نهاده اند .

جریده عربي زبان (شرق الاوسط) درشماره ۷ جون ۱۹۹٦ مقاله ئي به قلم امیر طاهري همراه با نقشه ئي از افغانستان به چاپ رسانیده که در آن محل این امیر نشین هاي مستقل نیز علامت گذاري شده است . درین مقاله آمده است که نظر به مجبوریت و با قرار تعداد زیادي از مسلمانان بنیادگرا از سودان و الجزایر به مناطق دور افتاده افغانستان پناه مي برند . آنها در صدد هستند تا امارت هاي شبه مستقل را خلاف خواست دولتي افغانستان در کابل، تاسیس نمایند . از این امارت ها همچنان براي تمرینات نظامي و پناهگاه کار گرفته میشود ضمناً این مراکز وسیله، ارتباط میان بنیادگرایان مسلمان در مصر ، تاجکستان، آذربایجان و بعضي دیگر از کشور هاي عربي است . این عربهاي افغان در سه منطقه (کنر، واخان و پکتیا) تمرکز یافته اند که از طرف گروههاي بنیادگراي پاکستاني، شیوخ قبیله هاي پشتون و قاچاقبران بزرگ که به آنها عقیدت دارند کمك و پشتیباني میشوند که از طریق پاکستان ارتباطات خود را با دنیاي خارج بر قرار مي سازند .

درین قلعه ها وسایل تولید برق، تیلفون هاي سیار و دستگاه هاي ماهواره ئي تلویزیون و مقدار زیادي اسلحه مدرن که قبلاً در جهاد افغانستان از آن کار گرفته مي شد ذخیره شده است . طبق گزارش رسانه هاي خبري تعداد این عربهاي افغان که قبلاً در پاکستان بوده و با زنان آن مناطق ازدواج کرده اند به چندین هزار نفر مي رسد .

این بنیادگرایان درین مناطق تا رفع خطر محسوس بصورت مخفي زندگي مي کنند تا بعد از مساعد شدن شرایط به میدان اصلي عملیاتي خود برگردند البته در اکثر حالات با تغییر هویت . بر اساس گزارش منابع الجزایري حدود سه صد نفر از آنان در هفته هاي اخیر از طریق لیبیا ، سودان و پاکستان به افغانستان رفته اند .

گزارش هاي مقاله شرق الاوسط مربوط به زماني است که مناطق شرق و جنوب کشور بوسیله تحریك اسلامي طلبه هاي افغانستان فتح نشده بود ولي باید تصریح نمود آنچه که درین مقاله و یا مقالات و گزارشات مشابه در مطبوعات غرب مي آید منعکس کننده، حقیقت مسئله نیست، کسانیکه افغانستان و شرایط این کشور را از نزدیك دیده اند میدانند که تا زمانیکه شخص بر جان خود و خانواده خود سخت بیمناك نباشد حاضر نخواهد شد از یك کشور عربي بار سفر بندد و با خانواده خویش غرض ادامه حیات راهي واخان در افغانستان گردد . یکي از دلایل عمده این مهاجرت ها تبعیض و سؤ ظني است که در جهان نسبت به (عربهاي افغان) وجود دارد و این خود موجب میشود که آنها هویت عربي خود را کنار بگذارند و بسوي هویت جهادي خود رجوع نمایند . به همه مجاهدین عرب به چشم تروریست دیدن یکي از عوامل این مهاجرت هاست اما نکته دیگري نیز درین رابطه قابل توجه است : همانگونه که قبلاً اشاره شد مجاهدین عرب به این انتظار و آرزو بودن که پس از پیروزي جهاد در افغانستان، درین کشور یك حکومت مستحکم اسلامي بوجود خواهد آمد اما پس از سقوط رژیم نجیب که سلسله جنگ ها میان تنظیم هاي مختلفْ جهادي بخاطر رسیدن بقدرت آغاز شد آنها را از رسیدن به این هدف مایوس ساخت و براي اولین بار گروهي از آنان تصمیم به ساختن یك جامعه مستقل اسلامي گرفتند که در آن قوانین اسلامي را پیاده سازند . آنها از یك داکتر طب اهل اردن که هاشمي نسب بود و در شفاخانه الفوزان در پشاور مشغول کار بود خواستند تا خلافت این جامعه اسلامي را بعهده گیرد « زیرا قریشي بودن یکي از شرایط خلافت است» داکتر مذکور پذیرفت و آنها در یك منطقه خیبر اجنسي در داخل مناطق قبایلي پاکستان که نزدیك به سرز افغانستان بود محلي را براي زندگي انتخاب کردند . درین کار یکي از خانهاي قبایل نیز با آنان همکاري داشت .

این واقعه بر غرب ناگوار آمد و همان بود که لشکري از قبایل غرض سرکوبي و از میان بردن این امیر نشین بسیج گردید . خان قبیله که هوا دار خلافت بود بقتل رسید در برخورد با لشکر قبایل، حامیان خلافت بعلت قلت تعداد شکست خوردند و با بر جا نهادن تعدادي کشته بداخل خاك افغانستان عقب نشیني کردند و به این ترتیب نخستین تجربه ساختن امارت اسلامي مستقل در مناطق قبایلي پاکستان فرجامي نا خوش آیند داشت .

مجاهدین عرب در افغانستان را کشور هاي عربي و غربي (عربهاي افغان) و گاهي هم (کابلي ها) مي خوانند . تعقیب و آزار آنان در بسیاري از کشور هاي جهان موجب گردیده است تا گروهي از آنها مناطق دور افتاده و کوهستاني افغانستان را براي خود بعنوان پناهگاه برگزینند زیرا در هر جاي دنیاي که عمل تروریستي بوقوع مي پیوندد پولیس در قدم اول به سراغ همین جماعت مي رود بطور مثال :

روز نامه لوموند چاپ پاریس در شماره مورخ ۱۱ جولاي ۱۹۹٦ گزارشي در رابطه با انفجارات تابستان سال ۱۹۹٥ پاریس به نشر سپرده است درین مقاله آمده است که تحقیقات پولیس نشان میدهد که اشخاص مسؤول یا مظنون به این عملیات در افغانستان و پاکستان تعلیمات تروریستي دیده اند . مقاله مدعي است که شخصي بنام عبدالله «عزام» مرکز تربیه جوانان مسلمان را بنام (مکتب خدمات مجاهدین) اداره مي کرد و بعد از مرگ وي داماداش (ابو جمعه ابو توار) که اصلاً الجزایري مي باشد و از فرانسه بخاطر فعالیت هاي خرابکارانه اخراج شده است مسؤولیت مکتب خدمات را بعهده گرفت که مسؤول تربیه نظامي اتباع الجزایر در پاکستان بود . (مکتب خدمات مجاهدین) در دوران جهاد از طرف عربستان سعودي تمویل مي شد بعد از حمله تروریستي بالاي سفارت مصر در اسلام آباد . مقامات پاکستان آن مرکز را در سال ۱۹۹٥ بست اما افراد این مرکز بطور غیر رسمي زیر چتر موسسات دیگر عربي به فعالیت خود ادامه میدهند .

مجاهدین عرب پس از جهاد افغانستان اکنون در الجزایر و جمهوري چیچن فعال مي باشند و مقامات فرانسوي شك دارند که موسسات غیر حکومتي مانند موسسه بین المللي کمکهاي اسلامي، کمك مسلمانان و مکتب خدمات جنگ هاي جهادي را حمایه مي کنند .

آنچه که در مطبوعاتي غرب در باره موسسات خیریه اسلامي و رابطه آنان با اقدامات تروریستي مي آید این سوال را در ذهن بوجود مي آورد که این موسسات در دوران جهاد افغانستان بیشترین فعالیت ها را داشتند چرا در آن زمان با چنین اتهامات مواجه نبودند ؟ مکتب خدمات مجاهدین در زمان جهاد افغانستان تاسیس شد و عبد الله عزام گرداننده آن در آن موقع هر سال سفر هاي به کشور هاي اروپایي و امریکا داشت و با مسلمانان مقیم این کشور ها در تماس بود و تا زنده بود اتهام تروریست بودن بر وي وارد نیامد .

مکتب خدمات بعد از شهادت عبد الله عزام دچار انشعاب شد . عده ئي شیخ یوسف عباس را بعنوان رئیس دفتر پذیرفتند ولي ابو عادل خواهر زاده عبد الله عزام این انتخاب را نپذیرفت و سر انجام پس از اینکه امریکا دولت پاکستان را تحت فشار قرار داد تا مجاهدین عرب را از خاك خود اخراج نماید عده زیادي از گردانندگان آن پاکستان را ترك گفتند و شیخ یوسف عباس در پاکستان بزندان افتاد . بر خلاف ادعاي مقاله داماد الجزایري شیخ عبد الله عزام (ابو جمعه ابو توار) که شاید منظور مقاله (عبد الله انس) باشد، پس از عبدالله عزام مسوول این دفتر نبود . او در دوران جهاد روابط نزدیك با شوراي نظار مسعود داشت و با تضمین وي اکنون در فرانسه زندگي مي کند و هرگز از این کشور اخراج نشده است موسسه دیگري که به گفته لوموند مظنون به کمك به تروریسم است موسسه کمك اسلامي است که شاید مقصود لوموند موسسه MUSLIM AID باشد . این موسسه بوسیله (یوسف اسلام) تاسیس گردیده که تبعه انگلستان است و قبل از مشرف شدن به دین اسلام یکي از معروفترین خواننده هاي موزیك پاپ در اروپا بود وي بعد از مسلمان شدن این موسسه را غرض کمك به مسلمانان نیازمند در جهان تاسیس نموده است .

سؤ ظن به «مسلم اید» از آنجا ریشه مي گیرد که این موسسه در دوران جهاد در خدمت مجاهدین افغان بود و یوسف اسلام در آن موقع سفر هایي به پاکستان و دیدار با بعضي از رهبران مجاهدین داشت . همانگونه که شیخ عمر عبدالرحمن روحاني نابیناي مصري را در امریکا فقط به همین سؤ ظن در حادثه انفجار بمب در مرکز تجارت بین المللي در نیویارك دخیل دانستند و به زندان انداختند .

* * *

مطالبي که در این نوشته آمده حامل تجربیات شخصي نویسنده است و صاحب این قلم مدعي نیست که آنچه که درین مقال آمده در برگیرنده همه حقایق است . ما افغانها مردم حق شناسي هستیم اما براي اداي حق مطلب در مورد ایثار و از خود گذري برادران مجاهد عرب ، این چند صفحه کاغذ بسیار نا چیز است . آنها هزاران کیلو متر را با دشواري پیمودند تا به سرزمین جهاد بیایند و در کنار ما برزمند فقط به این امید که رضاي خدا«ج» را بدست آورند .

من مدعي نیستم که همه (خوب) بودند ولي بسیاري از آناني را که من شناختم از خوبان این طایفه بودند . فردوس برین جاي شان باد !

مجاهدین عرب عظمت جهاد ما را درك کرده اند و حتي بیشتر از بسیاري از خود ما افغانها و به همین علت در هنگام دستگیري و در جریان باز پرسي در هر کشوري با گردن افراشته و با افتخار مي گویند که در جهاد افغانستان شرکت داشته اند در حالیکه میدانند این اعتراف ممکن است چه دشواریهایي براي شان ایجاد نماید

تردیدي نیست که رهبران جهاد بخون شهدا جفاي بسیار روا داشتند ولي درین میان بزرگترین جفا بخون شهداي عرب را استاد رباني با سفر به مصر و امضاي موافقتنامه مبني بر استرداد مجاهدین عرب به دولت مصر مرتکب شد این کار وي گذشته از اینکه یکسره با موازین شرعي منافات داشت، مغایر با روحیه جوانمردي و قدرشناسي ملت مجاهد افغان بود و تسلیم دادن عده یي از مجاهدین الجزایري به دولت الجزایر خوش خدمتي بود که به نفع غرب درین زمان انجام شد .

در حالیکه غرب در برابر جنایاتي که علیه مسلمانان در سراسر جهان صورت مي گیرد خاموش است ، نه در شرق میانه بر اسرائیل اعتراض مي کند و نه در چیچین بر روسیه و نه در کشمیر بر هند، در حالیکه غربي ها دشمنان اسلام چون سلمان رشدي و تسلیمه نسرین را در خاك خویش پناه میدهند تا بر ضد اسلام هر آنچه مي خواهند بگویند و نام این کار را دفاع از آزادي بیان و حقوق انسان مي دانند این کشور ها به کدام حق خواستار آن هستند که ما مجاهدین عرب را از افغانستان اخراج نمائیم ؟ اینکه اسامه بن لادن در مصاحبه با خبرنگار روزنامه (اندیپندت) گفت که دولت هاي انگلستان و فرانسه باید عساکر خود را از عربستان سعودي خارج کنند و گر نه سربازان شان به سرنوشت سربازان امریکایي مواجه خواهد شد، فقط یك نصیحت است نه یك تهدید و هر چند این مصاحبه در زماني صورت گرفت که شرق افغانستان تحت تسلط طالبان نبود ولي این سخنان هرگز نمیتواند این اتهام را ثابت کند که اسامه یك تروریست است .

دولت اسلامي افغانستان در برابر جامعه بین المللي این مکلفیت را دارد که مانع از آن گردد که از خاك افغانستان بعنوان یك پایگاه براي اعمال تروریستي در جهان استفاده شود چنانچه در مناطق تحت کنترول دولت اسلامي هیچ کمپ غرض آموزش خرابکاران وجود ندارد اما وجود عده یي از مجاهدین عرب که در دوران جهاد ما را یاري کردند در کشور ما نشانه یي از قدرشناسي عنعنوي افغانهاست و تا زمانیکه این افراد از قوانین دولت اسلامي تخطي نکرده اند از نظر ما هرگز مجرم شناخته نمي شوند و دولت اسلامي آنها را با زور وادار به خروج از افغانستان نخواهد ساخت اما در مورد فعالیت هاي که در خارج از مرز هاي کشور ما صورت مي گیرد دولت اسلامي هرگز مسولیت ندارد و هر کشور باید مشکلات داخلي خود را خودش حل کند .

□

د شریعت تبصره

دوستم اسلامي حدود وحشت بولي او دیموکراتیک حکومت غواړي

زمونږ هیواد والو د مسکو راډیو له ماشامني خپروني نه په مزار شریف کي مطبوعاتي کنفرانس ته د دوستم د وینا ځني مهم ټکي واوریدل دي مطبوعاتي کنفرانس ته دوستم ویلي دي چي د افغانستان جګړه فوځي حل نه لري او په افغانستان کي د سولي هیله په خبرو اترو پوري تړلي ده دوستم دا هم ویلي دي چي دي د طالبانو اسلامي تحریك سره خبروته چمتو دي خو یو څو داسي مادي دي چي دي ور ځخه هیڅکله تیریدلي نه شي دوستم وایي چي «دطالبانو اسلامي تحریك باید له دوي سره د اسلامي نظام په ځاي په دیموکراتیك نظام موافقه وکړي» همدا راز دوستم د اسلامي شریعت نفاذ او د شرعي حدودوتطبیق نعوذ بالله من ذالك «وحشت!!!» بولي .

هسي خو د دوستم هویت او ځیره له هیچا هم پټه نده ټول نړیوال خبر دي چي دي په هغه رژیم پوري اړه لري چي تقریباً بوه نیمه لسیزه یې په افغانستان کي د اسلام د له منځه وړلو لپاره وحشیانه هلي ځلي کړیدي.

دي خو په کمونستي رژیم کي هم د هغي وحشي او اجرتي قاتلي ډلي مشرو چي هیڅ انساني کرامت یې نه پیژانده خو په هیواد کي چي دده د تیوریکي او عقیدوي ملګرو د واکمني له پاي وروسته د ځنو نا عاقبت اندیشو، لنډ فکرو په تخت او چوکي د عاشقانو په مرستهٔ سیاسي او نظامي پرستیږ پیدا کړ نو دي وپوهید چي نور نو د کمونیزم د نوم او پوچي فلسفي لپاره نه تنها په افغانستان کي بلکه په ټوله نړي کي ځاي نه لیدل کیږي نو په دي ګمان چي « د جامو د رنګ په بدلولو به خلك ټول سړي بدل وګڼي «نو زمونږ د ایمان او خاوري د تمامیت دښمنانو دي په نوي جامه کي ناو کړ او د «ملي اسلامي جنبش» تر عنوان لاندي ډلګي یې ورته جوړه کړه خو دده دي پلمو او منافقتونو هیڅ ځاي هم ونه نیوه د افغانستان مسلمان خلك هوښیار دي سترګي لري، ، درك او بصیرت لري له دوي سره د دوستم د ژوند ټول ریکارډ پروت دي او دده په ټکیو نه غولیږي دوي ولیدل چي دوستم له ۱۳۷۱ کال نه مخکي ځومره ظلمونه کړیدي او ځومره بي ګناه انسانانو وینې یې تویې کړیدي نو له ۱۳۷۱ را پدیخوا یې خپل دي غیر انساني، وحشیانه او کرغیړنو اعمالو ته ځو چنده نور شدت هم ورکړیدي. ده غوښتل چي دي به (د اسلامي جنبش) په عنوان خلك وغولوي خو دي دیته متوجه ندي چي 'که افغانان دومره ژرغولیدل نو دده سلف (نجیب) خو له ده نه په مکاري توب او چل او فریب کي لس چنده تکړه وو د وروړ او پخلاینې په ډېرو چیغو خوږي ستوني وچ شوي و خو هیڅ نتیجه یې ورنکړه چي بالاخره د خپلو اعمالو په جزا هم ورسید . نه پوهیږو چي دوستم بیا په خوب کي ځه کنجاړي لیدلي دي او دومره جرئت چا وربخښلي دي ؟ چي خپل انوي پټ راز او ما في الضمیر (له ملت او اسلام سره دښمني) یې چي ډېر وخت یې د هغي پټولو لپاره هڅي وکړي پټ و نه شو ساتلي

مبصرین عقیده لري روسان او د هغه انډیوالان چي د طالبانو اسلامي تحریك ځانته لوي خطر بولي د طالبانو وروستیو فتوحاتو سخت وارخطا کړیدي او هر وخت یې غونډي پیل کړي، وي نو دوستم چي د بصیرت او تفکر له جوهر نه بالکل خالي دي فکر کوي چي ګویا دا ټول به زما د حمایت لپاره را پورته شوي وي او همدا یې پوچ خیال دي مست او دي اظهاراتو ته چمتو کړ .

او دا هم کیدي شي چي د ساقي خانه او رقص خانو یاد یه یې جذبات راپاراولي وي او یا خو به کنفرانس ته د خطاب په وخت کي هم د شرابو په نیشه کي له ځانه نا خبره و چي د خپل څوکلونو رازتري افشا شو .

حقیقت دا دي چي دوستم هغه لوي کمونست، ملي خاین د اسلام او مسلمانانو سوګند خوړلي دښمن دي چي د نجیب د حکومت تر سقوط وروسته د ټول نړیوال استعمار لخوا د اسلام مقابلي لپاره په شا وټپول شو او د اسلام او افغانستان د دښمنانو د یوازیني هیلي په توګه ورسره د دوي لخوا بیدریغه هر اړخیزي مرستي وشوي او کیږي او غواړي چي دده په واسطه، افغانستان د ملي اراضي تمامیت ته صدمه ورسوي چي ان شاء الله دا نا شوني کار دي. اوس چي د طالبانو د اسلامي تحریك د اتلو سپاهیانو قدمونه ددوي ستوني ته په وررسیدو دي او د امید او تیښتي لار پري له هري خوا بنده شوي ده نو له خپلو بادارانو نه د مرستي په هیله یې په وارخطایي سره کوکي پیل کړي چي که همدا اوس مو د مرستي لاس رانکړ نو بیا افغانستان کي د الحادیت او سکولرستي بیرغ به ږوبیدو ده چي همدي چیغي ته د فریاد رسي په خاطر یې بادارانو هم په تاشکند کي یو له بل سره تندي ومښل

د وارخطایي او خفګان د تناره د اور تودوخي یې چي د دوي د میدان د دوه نورو لوبغاړو (هند او ایران) په تندي د خولو کوم سیند روان کړي و له هغي نه هم دده دو چي مرئي رګونه د پخوا په ځیر خړوبه شول خو داسي ښکاري چي د «نزع» له دي حالت نه به هیڅوك هم اوس دي خلاص نه شي کړلي دوستم د طالبانو د اسلامي تحریك په لاس نافذ اسلامي مقدس شریعت په کلکه ردوي او اسلامي حدودو ته «وحشت» وایي چي د اسلام مقدس دین ته خو دومره لوي توهین حتي لعین سلمان رشدي او لعینې تسلیمي نسرین هم نه وکړي . !!

حتي د اسلام نورو سر سختو مخالفینو هم دومره جسارت او بي ادبي د اسلام په هکله نه ده کړي نو دي مسلمان !!! ځنګه وکړه که فرض کړو چي دوستم په ۱۳۷۱کي بیرته پخواني عقیدي ته اوښتي او مسلمان شوي و نو په خپل دي خطاب خو د ټول امت په اجماع بیرته مرتد شو چي ان شاء الله حتمي سزا به یې هم وګوري .

مونږ دوستم ته وایو چي د افغانستان مسلمان ملت خو د همدا ستاسو رټل شویو عناصرو لخوا د دیموکراتیك نظام ترخه تجربه لیدلي ده دا رواني بدمرغي، دا د وینو سیلابونه، دا دردونه، کړاوونه لوړي تندي خو د همدي دیموکراتیك نظام محصول او ثمره ده نو ټن په کوم مخ دوي ته د دموکراتیك نظام د زهرو هماغه تریخ ګوټ(د هندوانو کمونستانو، سکولرستانو، صهیونستانو صلیبیانو د عقیدو ګډ معجون) په لا بدرنګه او ناولي پیاله کي وړاندي کوئ؟ ایا له دي به بل غټ حماقت وي ؟نه هیڅکله هم نه .

خو کله چي انسان د بل چا د استعمار او استحماق په جال کي را ګیر شي نو د وجود د سترګو سره سره یې د عقل سترګي هم ړندي شي او اراده او اختیار ورنه سلب شي نو ټول حرکات او خبري یې د بل چاپه غږیو او ژبه وي .

مونږ په پاي کي ټول اسلامي امت ته په پوره ډاډ سره دا زیري ورکوو چي ان شاء الله الهي نصرت د طالبانو د اسلامي تحریك مل دي الله «ج» له خپل لښکر سره د خپل نصرت وعده پوره کوي او د باطل ریښي به له بیخه ووګي . ان شاء الله

ماما ! زما پلار نشته !!

امر الله «اميد»

د اختر لمړي ورځ وه، د لويو او وړو نوي جامي په تن وي، خلك ولي، ولي يو د بل کورته د مبارکي لپاره تل،، د کلي په بازار کي سمه تماشه جوړه وه، ټالونه، ګانګو ګاني او نور ډير د تفريح او ساعت تيري شيان په نظر راتلل، خوښي او خوشحالي هر چاته نوي روح ښښلي ؤ، د هر چا په شونډو نري شان موسکا خوره وه ، داسي ښکاريده چي وخت ورته د خوشحالي خپله غيږه پرانيستي وه، هر چا خپل نازولي ماشومان له ګوتو نيولي او د بازار په لور روان وو، د کور کلي په حجرو کي د ناستو ميلمنو د ټوکو او ټکالو اوازونو کلي په سر اخيستي ؤ .

خو ! د خوشحالي نه په دي ډك کلي کښي يو کوچني ماشوم پداسي حال کي چي زړي او دريله جامي يې په تن، لوڅ سر او لوڅي پښي د يوه دوکان تر څنګ غلي ناست › او د کلي نازولو ماشومانو ته يې رڼي، رڼي کتل، په خپله معصومه څهره يې داسي نا اميده کتل ،چي په ليدو يې د سړي زړا راتله .

چا هم ددي بې وسه او فقير ماشوم پوښتنه نکوله، داسي ښکاريده ، چي چايي هم پر سر د ترحم لاس نه ؤ راښکلي، هر چا ورته په بې پروايي سره کتل، د هر چا د سترګو اغزي ؤ ، سپيره مخ او وچي شونډي يې د ډير بد حالت شاهدي وي، د هيلو بيړي يې د ناهيلي په سمندر ورګډه وه، د هوس بڼ يې د وخت خزان ځپلي ؤ، بې وسه حالت ته يې په کتو د سړي سترګي سوزيدي، دا وخت ده خپل سر په زنګونو کښي ايښي و، ما خپل زړه د کاڼي کړ، د زهرو ګوټ مي له حلقه تير کړ او په مات ګوډ احساس يې خواته ورنږدې شوم، پر سر مي ورته لاس کيښود، ماشوم د خپلو معصومو سترګونه د ليمو څادر پورته کړ او په ورين تندي يې راته حيران، حيران وکتل، ماور نه پوښتنه وکړه . بچيه! ستا نوي جامي نشته ؟

ددي خبري سره يې پر مخ د اوښکو لاري جوړي شوي، داسي ښکاريده، چي زړګوټي يې له ډيرو ګيلو ډك ؤ، په ناهيلي او له افسوسه ډك انداز يې راته وويل : ماما! زما پلار نشته !! د ماشوم ددي خبري سره مي بي شميره غمونه ميلمانه شول، سم دواره مي ضمير د وجدان د محاکمي ميز ته راکاږلم، په غاړه کي يې راته د يو لوي جرم د ارتکاب رسي واچوله نه پوهيدم په کومو الفاظو ورسره خبري وکړم، زما نه يې ټولي هغه پوښتني هيري کړي، چي غوښتل مي ورته وپوښتم، چي ستا حال ولي دومره پريشانه دي ؛ ولي دي شکيدلي جامي په تن دي؛ ولي درباندي د اختر خوشحالي غم ده ؛ د ماشوم دي خبري، هك حيران او د سودا په سيند لا هو کړم .

زما د سوچونو مراندي لاهماغسي غزيدلي وي ، چي د ايمان پرښتو مي راباندي د تخيل په ژبه غږ وکړ . پاڅه ! پاڅه له دي مظلوم ماشوم څخه غواړي، پاڅه د خلکو په ټيوتو مالګي مه دوړوه پاڅه دريا شړي دي دړيوله کړه، خلك د يتيمانو پوښتنه د اختر په ورځ نه کوي، تاسي دوزخيان او د يتيمانو پوښتنه !

او بيا يې راته په يو غرميدلي اواز وويل: تاسي ټول کلي مجرمان ياست، هو تاسي ټول کلي ...

ددي سره يې واکه پاڅيدم او په ساه نيولي حالت مي خپله لار غبرګه کړه، په ټوله لار کښي مي په قدم، قدم د ماشوم د اوښکو ځاځکي سترګو، سترګو ته کيدي او په بوګنونکي اواز مي دي خبري غوږو ته په بار، بار کړنګول چي، زما خو پلار نشته ، هو ! زما خو پلار ...

افغان وايي

وفايار

لوي افغان يم غلامي مي کړي نه ده
اکتفا مي د لوي خداي«ج» په بنده ګي ده
سرمي تل د ننګ غيرت ميدان ته وړي
د حق لوري پلوي مي هميش کړي
د مظلوم د خبر غږ مي پورته کړئ
تاريخونه مي په ننګ، غيرت شاهد دي
د هيواد د خدمتګارو خدمتګار يم
هزار شکر چي پيدا خداي مسلمان کړم

تيښتي سترګي زنده ګي مي کړي نه ده
خو بنده ته بنده ګي مي کړي نه ده
د ننګ لار کي بې ننګي مي کړي نه ده
مه کړه، خداي د حق بدي مي کړي نه ده
د زور ګيرو سلامي مي کړي نه ده
هوا! دښمن ته سر ټيټي مي کړي نه ده
د خائنين ، غدار دوستي مي کړي نه ده
شکر شکر نا شکري مي کړي نه ده

د وفا په لاره تللي «وفا يار» يم
په هيڅ وخت بې وفايي مي کړي نه ده

د ادب مرغلري

اي قاصد صلح

عبدالرحيم «ثاقب»

اي قاصد صلح
از دير وقت به اين طرف
از سالها،
از ماها
در انتظارت بوديم
بهر سو،
بهر طرف،
بهر کوچه،
بهر روزنه ،
نظر ميکرديم،
مينګريستيم،
به اميد امدنت ،
به آرزوي قدومت،
چشمها در انتظارت بود
از بسکه رنجها ديده بوديم
در بدريها ،
بي وفائيها ،
همه، ما
آري همه ما
مشتاق لقائت بوديم
ولي قدوم ميمونت تاخير شد
از تاخير آن ميرنجيديم
و ميدرديديم
و طن سراپا ظلم بود
تجاوز و غارتګري بود
تعدي و بي عدالتي اجانب از هر سو تهديد مان ميکرد
داد و دلسوزي از کاشانه ما رخت بر بسته بود
از صميميت و محبت نشانه نمانده بود
اخوت و برادري کلبه ما را پدرود گفته بود
نه گل مانده بود و نه بلبل
لاله داغديده از تاثر زمان داغديده تر نمايان ميشد
در بين لحظات آمدنت ضرورتي بود
ضرورتي با اهميت
تا انکه پرتو لطف ايزدي تابش نمود
و تو !
بلي تو از کرانه ويرانه وطن درخشان شدي
درخشش بشارتي بود براي همه، مظلومان
جبيره بود براي همه در ديده گان
به استقبالت جانها شتافتند
آمدنت مژده صلح آورد
مژده اقامه عدل الهي
مژده حاکميت خلافت اسلامي
مژده از بين رفتن همه بي عدالتي
به آمدنت مينازيم و مي باليم
زيرا که تو
پيام آور رحمت استي
پيام آور اخوت و صميميت
رسالتګر سعادت و مسرت
بلي اين همه تو استي اي طالب حق
خوش آمدي
اي قاصد صلح

حب وطن

رموز

حب وطن بدل و جانم آرزوست
آغوش پر ز مهر تو هر آنم آرزوست
من زاده ام بدامن پر گوهرت وطن
جان در همت سپردن و قربانم آرزوست
در باغ و بوستان تو وجودم توان گرفت
وصفت فزون بر لب و دندانم آرزوست
اي خاك زر خيزو اي ميهن عزيز
عمران تو بديده و چشمانم آرزوست
پرورده، ز آب هواي تو خود منم
سر سبزو خوشګواريت به جانم آرزوست
کاخ تو سر به اوج برين فلك رسد
شکري ز نعمات تو بر خوانم آرزوست
افغانستان که نامت قاره جهان گرفت
اين منزلت ز طالب افغانم آرزوست

د ورمو په څوکو

د حنيفي او حقيار په اقتفا

عبداللطيف «نثار»

کله درنيږي غمي سترګي د ښو په څوکو
قدم دي ښکل کړم طالب جانه د ليمو په څوکو
تا خو له ځانه سره زيري د وحدت راوړي
ځکه دي ستاني ډير مرغان د چنارو په څوکو
ستا دا قانون د شريعت مو ده منلي پخوا
نن درته پدو زيږي ګلونه د پګړو په څوکو
ځلانده لمر مو کړي تياري ورځي رڼا چه ګورو
شپه د وصال دي کړه رڼا د اننګو په څوکو
په ځړو دښتو بيا کيږدي غوړولي لمن
د ازادي شپيلي شپانه وهي د غرو په څوکو
د طوفان وخت تير شو اي ګراني ميبوندي ملالي
څوري وري به دي شي زلفي د وږمو په څوکو
چا د سوال لاس دي اوږد کړي د پردو درګانه
څوك ئي له وينو ږدي غمي د بلهونګو په څوکو
«دفاع» له چاکوي حيران يم هغه ټول غداران
څه مهاجر څه شهيدان شول د برچو په څوکو
«حنيفي» غږ شه لي «حقيار» نه چه «نثار» څه وائي
سپړي د خپل فرهنګ غوټي د قلمو په څوکو
مغل خپل لوګر

شنکي اسمان غوارو

سالك قصبه وال

يو ماليار ان د وطن
دلته ګلونه غوارو
خزان نه ليري ليري
ليرلي وختونه غواړو
دا تورو شپو تياروته
سپين سحرونه غوارو
دلته خوښي راولو
سپرلي غمونه غواړو
موږ يو بچي د وطن
غم کي ستي د وطن
خوس يو له هر څه موږه
په سوکالي د وطن
قدر د هغو کوو

چي وي مالي د وطن
مدام خوشحاله چي وي
په ارامي دوطن
د بدبختيو څخه
موږ امان غواړو
تل د سعادت ګلونه
پخپل مکان غواړو
له تورو وريځوخالي
شنکي اسمان غواړو
د وروري او اخوت
دلته جهان غواړو

د تمدن زانګو

قاضي محمد حسن (حقيار)

زه د تاريخ نمونه يمه جرڼتونه ويشم
چي خپلواکي خوښوي هغوي ته رازونه ويشم
د استقلال او شجاعت درس راشي مانه زده کړي
زه د ميراني سرښندني، پيغامونه ويشم
ازادي نه ده په خپل سر لوچي کول يې ګټه
د حريت په مدرسه کي دا درسونه ويشم
کتاب د عشق مي مکتب د خپل مذهب کي لوستي
د سباوون وړيه يم مينه، الفتونه ويشم
د استعمار د سترګو خار يم غلامي نه منم
په چيه خوله ټولي نړي ته غيرتونه ويشم
چي په ځان وياړي اسارت ځني نفرت ښکاره کړي
په داسي قوم داسي ملت زه انعامونه ويشم
زه ګنا ګر نه يمه لاس مي د کرم پراخ دي
يمه حاتم سخاکي بت عزت نذرونه ويشم
نه مي حرص خوښ دي او نه وريږ د مادي دنيا يم
خپله ناداريم خو په نورو خيراتونه ويشم
زه خو د علم معرفت او تمدن زانګو يم
وايي «حقيار» ټولي دنيا ته حکمتونه ويشم

قطعه

چي توري شپي به څيريدلي د بلال په نعره
بيا مو غوږونو ته هماغه اذانونه راغلل
چي خپروي ورته وزري د اسمان ملکي
خوشبختي خاوري تا ته هغه قدمونه راغلل

قاري فضل الدين «سراجي»

زموږ په کليزه کي :

د کب دريمه د پخواني شوروي اتحاد د تاريخي ماتي د پيل ورځ

غالب

کله چي سره ښکيلاك وليدل چي په کابل کي د دوي لاسپوڅي د حق د لاري د مبارزي،د لارويانو په وړاندي نو د مقاومت توان نه لري او ټغر يې په ټوليدو دي نو په ۱۳۵۸ هـ ش کال د مرغومي د مياشتي په شپږمه نيټه يې د خپلو ټولو عنصري وسلو او وسايطو سره زموږ پر ګران هيواد بر يڼه فوځي يرغل وکړ او غوښتل يې چي د روسي کمونيزم د امپراطوري لمنه د هند تر سمندره پوري پلنه کړي نو په افغانستان کي يې د خپلي استعماري نقشي د پوره عملي کولو له پاره خپل ګوډاګي ببرك کارمل د قدرت په ګدي کيناوه او په ظاهر کي يې د افغانستان د خلکو سره د دوستي او مرستي نغارې وهلې د افغانستان خلکو د انګريزي استعمار نقشو په پوهيدلو او تجربي سره دا ومنله چي ګران هيوادېي دا ځل د روسي استعمار په منګلو کي پريووت او د روسي پوځ د تيري او تجاوز په باب يې ورځ په ورځ انديښني ډيريدلي او د افغانستان ښځو او نرو د خپلو پلرو او نيکونو په څير د يو لوي ديني او ملي تاريخي ازمايښت په وړاندي خپل ځان ليده او په دي فکر کي شول چي په څه ډول د خپلو ديني، ملي نواميسو او د وطن مور په وړاندي خپل مسووليت سرته ورسوي او خپل ځان او هيواد د روسي يرغلګرو پوځ له منګلو څخه وژغوري . د افغانانو په مسجدونو، خانقاو ديرو حجرو، کوروتو کليو، بانډو او ښاروټوکي د خلکو تر منځ همدا يوه خبره وه او هغه دا چي څنګه به د يرغلګر فوځ او استعمار لمنه له خپل ګران هيواد څخه ټوله شي او د يو اسلامي او جهادي تحريك جوړي د خلکو په فکرونو کي غزيدلي آن دا چي د کابل مسلمانو نجونو په ځوانانو ته په ډاګه دا خبره کوله چي : «راځئ زموږ ټکري تاسي په سر کړئ، تاسي ته شرم دي چي د ظلمپيستوب او افغانيت دعوه کوي. جګ شئ د روسانو په وړاندي ودريږئ او خپل وطن آزاد کړئ او ... » نو افغان مسلمان ملت دپخواني شوروي اتحاد تيري په ضد خپل غږ ټولي جهان ته پورته کي او د ۱۳۵۸ هـ ش کال د کب د مياشتي پدريمه شپه د الله اکبر د نارو په ويلو سره يې د کابل زمکه او اسمان وخوځاوه او په دغه شپه يې د ببرك کارمل او د هغه د روسي بادارانو له سترګو څخه خوب وتښتاوه کله چي شپه تيره شوه او د سباوون څريکه د افق په لمنو خپره شوه نو ديو ستر مارش يا لاريون له پاره ښځو، او نارينه و ځوانانو او زړو لاسونه سره ورکړل او د لمر د ځرك سره يې په ډيره بې صبري سره له خيرخاني، کوټه سنګي، دار الامان ، کارته نو، شاه شهيد ... او د ښارله نورو سيمو څخه د ارګ په لور حرکت وکړ. هو ! دغه ورځ د کب د مياشتي دريمه نيټه وه . د اسمان ملايکو د کابل د تش لاسو خو د ايمان په جذبه سنبال مسلمانانو لپاره د نصرت دعا کولي او د اجل او شهادت دعاشقانو لاري يې څارلي . مظاهره کوونکو په لارو او سړکونوکي په روسي ټانکونو او روسي عسکرو تيري ورولي او لاړي يې پري توکولي او په ببرك کارمل باندي يې لعنت وايه. د ډير قهر او غضب له مخي يې د ګټيتو دولتي ودانيو ښيښي هم ماتي کړي . خو چي کله مظاهره کوونکي پل باغ عمومي ته را ورسيدل او ببرك کارمل او د هغه روسي بادارانو په ارګ کي تري ويره پيدا کړه نو ددي بې ګناه مظاهره کوونکو د عام قتل امر يې ورکړ ځوانانو او پيغلو د روسي تيري کوونکو او د پرچميانو ګوليوته خپلي سيني سپر کړي . ډير ځوانان ، پيغلي، ماشومان او زاره د روسانو د وحشت ښکار شول او د افغانانو دغي تاريخي پاحون پخواني شوروي اتحاد د سره پوځ جنرالانو او مارشالانو ته د اور وسودله چي هغوي د افغانستان په نيولو کي د سختي اشتباه او حتمي ماتي سره مخامخ دي، خو په خوله يې د کرملين د واکمنانو له ويري هيڅ ويلي نه شو د کب د مياشتي په دريمه د افغانستان د مسلمانانو خلکو وينې توي شوي، خو د وينول هر هر څاڅکي څخه يې د افغانستان د آزادي آواز د اسمان د ملايکو غوږونو ته ورسيده، او د روسي کمونيزم د امپراطوري د رنګولو په نيت د افغانستان د خلکو جهادي ليکي او ارادي پياوړي شوي او د افغانستان خلکو د عملي جهاد د شدت له پاره سخته ارتيا احساس کړه او په روسي کمونيزم باندي يې د خپل حتمي بري راز د کب د دريمي نيټي د شهيدانو د سرو وينو د څاڅکو رنګ د الله اکبر د ملکوتي نارو د انګازو نتيجه وليده او بالاخره د خداي په مرسته يې خپلواکي وګټله نو ټن څکه د افغانستان مومن خلك د کب د دريمي نيټي يادونه په ډير وياړ سره کوي او دغه ورځ د خپل بريالي جهاد په تاريخ کي د بري دلو مري ورځي په توګه شميري اوس چي الحمد لله د هيواد څه دپاسه دري برخو کي د حوت د دريمي د شهيدانو ارمان پوره شوي او انشا ، الله هغه ورځ ليري نه ده چي د افغانستان اسلامي دولت اردو به د لوي خداي«ج» په نصرت په ټول هيواد کي د روسي ګوډاګيانو او د افغانستان د خلکو دسمتانو جرړي له بېخه وباسي. موږ يو حل بيا خپل لوی خداي سره د خپل عهد تجديد کوو چي د کفر او فساد په له منځه ورلو کي به د ژوند تر وروستي سلګي خپل جهاد او مبارزي ته دام ورکوو .

ښځه او د هغې حقوق په اسلام کي

حنيفه «زاهد شاجوئي»

دا يو ښکاره حقيقت دي چه ښځه د بشري ټولني نيماني برخه تشکيلوي او په خپلو ورسپارل شويو دندو کي د نارينه و تر څنګ د انساني ټولني د مادي او معنوي تکامل لپاره خپل فطري مسؤوليت سر ته رسوي. له همدي کبله د اسلام سپيځلي دين د ښځي منزلت او بشري مقام ته په درنه سترګه کتلي او هغه ناوړه کړه وړه چه د جاهليت په دوره کي او يا فعلاً په نني شلم قرن کي د تمدن او پرمختګ پنامه ورسره کيږي په کلکه غندلي. د لوي خداي په سپيڅلي کتاب کي د ښځو د حقوقو او هغوي ته د ځانګړو امتيازاتو په هکله متعدد ايانونه راغلي آن تر دي چه د ښځو شخصي او اجتماعي حقوق د هغوي د نفقي د هغوي د تربيي او له هغوي سره د سالمي اخلاقي معاشري په ارتباط په قران کريم کي مکمل سورت د «النساء» پنامه نازل کړای شويدي .

په نبوي ښکليو احاديثو کي هم د اسلام پيغمبر د ښځو په اړه د هغوي د ټولو حياتي مسائلو په اړه خپل امت ته لازم ارشادات کړي او دغه مبارك ارشادات ئي اکثره د ام المؤمنين بي بي عائشي «رض» لخوا روايت شويدي چه پدي هکله رسول اکرم «ص» په يوه مبارك حديث کي داسي ارشاد کړي: ، تاسي د اسلام د دين نيماني احکام له حضرت عائيشي صديقي څخه تر لاسه کړئ.

ټول هغه ښکلي دستورات چه د انسانانو د واقعي تقدم او نهائي نيکمرغي لپاره په اسلام کي راغلي هغه د ښځينه او نارينه انسانانو لپاره علي السويه دي .

همدارنګه اسلامي تاريخ خپلي زريني پاڼي د هغو قهرمانانو ښځويه وياړ ستر کارنامو باندي ښايسته کړي کومو چه د اسلام په لومړني مرحلي کي او يا له هغه نه راوروسته ئي علمي، جهادي او اخلاقي خدمات سر ته رسولي چه د نموني په توګه د حضرت ام المؤمنين بي بي عايشي صديقي «رض» ، بي بي فاطمه الزهرا ذات الناطقين او په ورووستيو پيپيانو کي د رابعيلخي نوموړنه د مقاله په توګه يادوم . د اسلام مقدس دين يو الهي قانون او دستور دي او د هغه هره ماده او حکم د ټول بشريت لپاره د هر ارخيز برياليتوب ، او نيکمرغي ضامن دي پدي سپيڅلي دستور کي د انساني ټولني ټولي حقه او سالمي غوښتني په ښه توګه مراعات شوي او د اهم پدي منظور چه ټول کائنات او په هغه کي انسانان د خداي مخلوق دي نو د همدي انسانانو د رښتياني نجات سعادت، او ترقي لپاره هماغه لوي څښتن قران عظيم الشان اسماني مقدس کتاب رالېږلي او د هغه په هکله ئي په دي معني اشاره کړيده : «يقيناً دا قران لاره ښئي هغه چاته چي هغه په نيغه لاره وي» قرآن عظيم الشان هغه جامع قانون دي چه سپيڅلي ارشادات ئي د بشري ټولني د ژوندانه هري ګوښي ته شامل دي او د انسانانو د ژوند ټولي سياسي، اقتصادي ، اجتماعي، اخلاقي، معاشرتي او کلتوري قضاياوي پواځي او پواځي د همدي مقدس دستور د روښانه ارشاداتو په رڼا کي حل کېداي شي او دا هغه منل شوي حقيقت دي چه د سليم عقل او سالم فطرت څښتنانو ورباندي اعتراف کړي . مګر ځيني انسانان هم شته دي چه د هغوي د بصيرت قوه فقط په ماديانو او محسوساتو پوري محدوده ده هغوي د خپل ناقص شعور او بصيرت له مخي د کائناتو د خالق پدي سماوي قانون د افترا او اعتراض غږ پورته کړي اوداي چي د اسلام دين فقط د مسلمانانو په ديني او مذهبي امورو پوري اړوند مسائل تر نظر لاندي نيولي او د بشريت د ژوندون ټول مربوطه اوامر خاصتاً د شلم قرن معاصر واقعات په قرآن کي ندي ځيرل شوي او د اسلام په دين کي د ښځي حقوق په بشپړه توګه ندي مراعات شوي ځکه د دوي په نظر په اسلام کي ښځه حق نلري چه له کوره څخه د باندي په دولتي چارو کي ګډون وکړي . ددغو کم بصيرته انسانانو دغه افتراګاني ځکه بې ځايه دي چه هغوي خپله ذاتاً د بشريت له فطري ځانګړتياو څخه نا خبر دي او حتي دا چه هغوي تر اوسه پوري خپل بشري طبيعت او فطرت په بشپړه توګه نده پيژندلي موږ وويل چه د اسلام مبارك دين د فطرت دين دي او ټول ارشادات ئي د بشريت د سالم فطرت په مقتضي برابر دي په همدي لحاظ که موږ د انساني سالم فطرت د قضاوت له مخي وګورو د انسان د بدن د هر غړي دنده او مسؤليت په جلا جلا توګه معلوم شوي او د انسان د بدن يو غړي د بل غړي دنده سرته نشواي رسولاي ځکه هغوي له يو بل څخه زيات توپير لري .

دا هغه يو عقلي واضح فورمول دي چه هر څوك پري پوهيږي او د همدي فورمول تقدير کوونکي د مقتدر څښتن ذات دي . همدغه مقتدر ذات د خپل تقدير له مخي په انساني ټولنه کي د ښځينه او نارينه دندي او مسؤليتونه په جلا جلا توګه معلوم کړي او د هغوي د فطري او جسماني جوړښت له ملحوظ سره خپل وظايف ورته تعين او ورسپارلي . مثلاً د نارينه انسان په وجود کي ئي ددي توان او انرژي ايښي چه حکومت وکړي قضا وکړي د خپل کور او ميرمني لپاره نفقه برابره کړي د الله تعالي پاکلي حدود تر سره کړي دژوند ورځنيو ټولي ستونزي او مشکلات په اسانۍ سره حل کړي. همدارنګه د ښځينه انسان جسماني جوړښت يې داسي عيار کړيدي چه د زياتو بشري عواطفو څښتنه ئي ګرځولي، دانجاب او اولاد پيدا کيدو دنده ئي ورکړي د خپلو کوچنيو اولادونو د روزني او تربيي استعداد ئي ورکړي د هغي د نفقي او د ژوند د مشکلاتو حل ئي د هغې له غاړي رفع کړي چه په حقيقت کي دغه ټول خصوصيتونه په هغوي تحميلي نه بلکي د هغوي طبيعي خصوصيتونه دي د همدي اصل په بنا قرآن عظيم الشان د نارينه په حق کي په دي معني فرمائي : «سړي چي دي مقرر دي په ښځو باندي» او د ښځو په اړه په دي معني ارشاد کوي چه : «او شته دوي لره حق په نارينه و لکه څنګه چي نارينه په دوي حق لري په نيکه طريقه سره ». داسلام دين يوه نارينه انسان ته دا حق ورکړي چه د تعدد په صورت کي کولاي شي چه څلور ميرمني په نکاح کړي . دا کار په حقيقت کي د انساني ټولني د تکامل او بشپړوالي لپاره يو مثبت عمل دي او ددي اصل ثبوت کولاي شو په لاندي څو نقطو کي داسي وڅيړو :

الف : په جسمي او بيولوژيکي لحاظ نارينه انسان تر ښځينه انسان قوت مند او با انرژي ده .

ب : د بين المللي احصاو او نفوس شماري له مخي د ښځينه انسانانو شمير تر نارينه زيات دي .

ج : په ورځني واقعاتو کي د نارينه انسانانو تلف کيدنه او وژل کيدل تر ښځينه انسانانو زياته ده

د : ښځينه انسان د صحي او روغتيايي ستونزو له امله ډير وخت د شهوالي او له زيږيدلي په مشکل مبتلا وي او همدارنګه د مياشتني دوري حيض او نفاس مرضونه او مشکلات ټول هغه عوامل دي چه بايد يو نارينه انسان د همدغو مشکلاتو په وخت کي له تعدد څخه مستفيد شي او خپل ورځني ژوند سرته ورسوي .

او نور داسي عوامل دي چه د هغوي له وجي د کائناتو لوی څښتن د انساني طبقي د هر وګړي لپاره معلوم حدود ټاکلي که چيري انسانان وغواړي چه له همدغو معينو حدود څخه ماسوا د ځان لپاره وضعي قوانين او حدود تعين کړي نو په نتيجه کي به هرو مرو ټوله بشري طبقه له هغو ستونزو سره مواجه وي لکه فعلاً چه مواجه ده . موږ له هغو غربي په اصطلاح متمدنو ټولنو څخه هم دا پوښتنه کوو چه تاسي په خپلو وضعي قوانينو کي کومي ښکلي او نيکمرغي د ښځينه انسان د سعادت او سوکالي لپاره تعين کړي ايا دا چه په خپله ښځه د ځان لپاره د نفقي پيدا کولو پخاطر له سهار نه تر بيګا پوري په ضعيف صورت شاقه کارونه کوي دا د ښځو د حقوقو په معنا دي او که دا چه ښځه له نارينه سره څنګ په څنګ په دولتي کارونو کي اشتراك وکړي او له هر لوري د نارينه تر مغرضانه نظرونو لاندي راشي ايا غربيانو په نزد دا د ښځو حقوق بلل کيږي چه ښځه په عام محضر کي په بې پردي حالت کي وګرځي او په هر وخت کي د هغي ټول ژوند فقط د بې پروا نارينه و د جنسي غريزي د اشباع لپاره تير شي .

ايا دا په يوه متمدنه ټولنه کي د ښځي حق او حريت بلل کيږي چه هغه د بې وجدانه انسانانو جنسي او حيواني غرايزو د راپارولو لپاره خپل ځان د هغوي د ګټو ښکار کړي ! ايا دارښتيا حق بلل کيږي چه هغه په هره سينما، تفريح ګاه او سيل ځايونو کي تر جنسي تجاوز لاندي ونيول شي! ايا دا د غربيانو په مذهب کي د ښځي ازادي بلل کيږي چه د هغي د لوڅ صورت تصويرونه په شامپو، صابون، کريم، او ارايش په وسائلو باندي ولګول شي او بيا په بازار کي عرضه شي! ايا دي ته د ښځو حقوق ويل کيږي چه نن په غربي ليږي کي په لکونو انسان د ايډز په وژونکي مرض اخته دي او په علاج يې خپله غربيان هم نه پوهيږي د يوه سالم انساني قضاوت له مخي دغه ټول هغه شيان دي چه د بشري کرامت نابودوونکي او انساني شخصيت له مينځه وړونکي دي نو پدي لحاظ زه ديوي مسلماني خور په حيث خپلو ټولو مسلمانو خاصتاًافغاني خويندو ته دا توصيه کوم چه د خپل بشري او انساني کرامت د بشپړوالي په منظور بايد په تمامه معني د قراني دستورانو پيروي وکړي او د غربيانو د ناروا تبليغاتو تر اغيزي لاندي را نشي ځکه د ټولو انسانانو د مادي او معنوي ښيګنو پوره ضامن د اسلام دين دي او بس نو بايد د همدي مقدس دين د نشر ، اشاعت او د هغه د حاکميت په لاره کي خپل اخلاقي مسؤوليت سرته ورسوو او خپل ځانونه د الله تعالي ددي مبارك قول مورد وګرځوو چه مفهوم يې دا دي فرمائي : «او مسلمان نارينه او مسلماني ښځي ځيني يې د ځيني نورو دوستان دي چي يو بل ته په نيکي امر کوي او له بدي څخه يې منع کوي ».

xxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxx

چپلي هاي پر از خون

احمد ضيأ «نعيم»

در جريان سال هاي موجوديت کمونيست ها در افغانستان، روسها از تاکتيك ها و شيوه هاي مختلف بخاطر تحقق منافع شان استفاده ميکردند که يکي هم از بين بردن شخصيت هاي ملي و بميدان کشيدن و به قدرت رسانيدن افراد پست و افراطي بود . آنان در پهلوي وسعت بخشيدن اردوي قبلي از هشتاد هزار به بيش از سه صد هزار، به استخدام غند ها و کندك هاي مليشه يي نيز اقدام ورزيدند، اين مليشه ها را عموماً کساني تشکيل ميدادند که عاري از تربيه سالم و خيلي بي رحم بودند . يکي ازاين فيگور ها عبدالرشيد تا ميده ميشد که در ميان «رفقا» به دوستم مشهور بود. دوستم بخاطر کشتار مردم بيگناه مورد توجه جدي ببرك کارمل و بادران روسي اش قرار گرفته برق آسا به ترفيعات نظامي نايل بالاخره در حاليکه الفباي جمتظام را نميدانست به رتبه جنرالي رسيد خوب بياد دارم يکروز عصر که لشکر خون آشام دوستمي به اصطلاح از عمليات باز گشته بود از آن ميان يك عراده کاميون باربري عسکري در چوك ميرويس ميدان توقف و دوستمي هاي غارتگر اموال غارت شده را از موتر پائين و به ليلام آن پرداختند ، مردم دورشان جمع شده بودند . در ميان اجناس مذکور چشمم به چپلي هاي کودکانه که پر از خون خشکيده بود افتاد که اين خود اثبات جنايتي بود نا بخشودني .

حال که دوستم مي خواهد تحت نقاب ديگر وارد عمل گرديده کشور را به تجزيه بکشاند بايد بداند که همه مردم او را خوب ميشناسند و تلاش هاي مذبوحانه وي ابداً دردي را برايش دوا نميکند، به او اطمينان ميدهم که انشا ، الله بهار سال نو به سرنوشت محتوم اسلافش دچار شدني و باشنده گان صفحات شمال از شر او و رهزنانش نجات خواهند يافت، پس چه بهتر که هم اکنون به عقل کوچکش مراجعه ، از خون ريزي هاي بيشتر خود داري و از ميدان کنار رود، در غير آن به برداشت بارگران گناهان و جرايم روز افزونش هرگز و قادر نخواهد بود

سکوت مخابرات سکـــوت ...

در سمینار علاوه بر هیئت رهبري وزارت مخابرات، آمرین مخابرات تمام کشور که تحت کنترول دولت اسلامي قرار دارند اشتراك ورزیده بودند .

سمینار با تلاوت آیت چند از کلام الله مجید آغاز گردیده ، متعاقباً محترم الحاج ملا الله داد «اخند» سر پرست وزارت مخابرات، با صحبت عالمانه شان، کار سمینار را افتتاح نمودند .

محترم الحاج ملا الله داد «اخند» در قسمت از سخنان شان فرمودند :

هدف از تدویر و راه اندازي این سیمنار ، احیاي مجدد و بازي سازي امور خدمات مخابراتي کشور میباشد، آن چنانیکه مخابرات حیثیت اعصاب را در کشور دارد؛ بناً سکوت مخابرات سکوت جامعه تلقي میگردد. در رژیم گذشته، سیستم مخابراتي کشور ما ، همچون سایر بخش هاي کلیدي جامعه از هم پاشیده بود؛ لیکن با آن هم، با نصرت خداوندي توانستیم تا فعالیت هاي خویش را در این عرصه، که از صفر آغاز گردیده بود انکشاف قابل توجه دهیم، که طي همین مدت ارتباط مخابراتي کشور را در مرکز وولایات تحت تسلط دولت اسلامي دو باره تأمین و فعال نمائیم .

اوشان افزودند : بعد از پیروزي نظام تحریك اسلامي طالبان در کشور، وزارت مخابرات به خاطر انکشاف سیستم مخابراتي تا کنون مجموعاً بالغ به (۶.۷) میلیارد افغاني را در عرصه هاي مختلف خدمات مخابراتي کشور به مصرف رسانیده است .

محترم مولوي عبدالحکیم «منیب» معین وزارت مخابرات، در پاسخ سوال خبرنگار ما گفتند : هدف از تدویر و راه اندازي این سمینار، استفاده اعظمي از وسایل موجود مخابراتي در کشور، تنظیم بهتر امور و طرح ریزي پلان هاي موثر و قوي در جهت مدرنیزه شدن سیستم تخنیکي و وسایل مخابراتي کشور میباشد .

ما میخواهیم که سیستم مخابراتي کشور خویش را با تخنیك جدیدي و عصري ، موافق با طرح و ستندرد هاي جهاني عیار سازیم .

در پاسخ این سوال که : در قسمت جلب و سرمایه گذاري تجار ملي کشور، در عرصه هاي خدمات مخابراتي چه تدابیري در سمینار اتخاذ گردید ؟ اوشان فرمودند :

گرچه در اصول و قانون مخابرات کشور، تمام وسایل و امور مخابراتي منحصر به دولت بوده و در اختیار وزارت مخابرات میباشد؛ با آنهم تلاش میورزیم تا با وضع نمودن یك سلسله تغیرات در قانون مخابراتي ، بتوانیم توجه و همکاري تجار و سرمایه گذاران ملي وطن خویش را در عرصه خدمات مخابراتي کشور جلب و به آنان در این زمینه اجازه فعالیت بدهیم ؛ اما این امر زماني را ایجاب مي نماید .
رئیس پلان آن وزارت ، در قسمتي از گزارش خویش در این سمینار گفتند : سیستم مخابراتي کشور ما طي سالهاي اخیر بالغ به (۳.۵) میلیارد افغاني (قیمت تمام شد وقت) خساره مند گردیده است .

در اخیر سیمنار، آمرین مخابرات مرکز و ولایات در حصه بهبود امور مخابراتي کشور طرح، نظریات و پیشنهادات خویش را ارائه داشتند در سمینار فیصله به عمل آمد تا به منظور جلب بیشتر کمك هاي خارجي، در جهت باز سازي و احیاي مجدد خدمات مخابراتي کشور، رسماً از اتحادیه هاي بین المللي و منطقوي پستي و اداره بین المللي تیلي کمونیکیشن که افغانستان عضویت این اتحادیه ها را دارا میباشد، کمك مطالبه گردد .

سمینار خسارات دو دهه اخیر را بر پیکر مخابرات مورد بحث و ارزیابي قرار داده؛ علاوتاً به منظور باز سازي و احیاي مجدد خدمات مخابراتي و ارتباطات باهمي شهري، ولایتي و بین المللي در سطح کشور، تدابیر جدي و عملي در این سیمنار اتخاذ گردید .

خبرنگار ما در مورد نتیجه گیري کار این سمینار ، نظر رئیس پلان وزارت مخابرات را اینچنین گزارش داد :

این سمینار از نگاه پلان هاي انکشافي زود ثمر، متوسط، و پلان هاي دورنمایي امور مخابراتي کشور، از ارزشمندي خاصي بر خوردار بوده و نهایت موثر و آموزنده تلقي گردید .

په هیواد کې د واکسیناسیون د پسرلني کمپاین د پېه تطبیق د څرنګوالي په هکله غونډه جوړه شوه

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په هغې غونډه کې چې له همدې امله د نړۍ د روغتیایي سازمان د یونسف د اداري، یو نیچا، د سره صلیب د نړیوالې کمیټې او د ماشومانو د ساتنې د موسسو د استازو او مسؤلینو په ګډون د عامې روغتیا په وزارت کې جوړه شوې وه د واکسیناسیون د پسرلني کمپاین د پیل په لاره کې ددغو موسسو د کار او فعالیت د یو غږ کولو او د ماشومانو د ناروغیو د ریوټ ورکولو د سیستم په باره کې خبرې اترې تر سره او په دې باب لازمي پریکړې وشوې . د افغانستان د اسلامي دولت د عامې روغتیا له وزارت سره د هر راز لوژستیکي او تخنیکي مرستو ژمنه وشوه

در نتیجه عملیات ...

ثقیل ۲۷ میل، ماشیندار خفیف ۲ میل، دهشکه ۸۳ پایه، زیکویك ۳۳ پایه دهشکه، تانك ۸ پایه، ماشیندار اي کا اس ۱۰ میل، تفنگ صد تکه ۱۷۶ میل، تفنگ بیست تکه دو میل، تفنگ یازده تکه ۷۸ میل، تفنگ ده تکه ۵۸ میل، تفنگ ،پنج تکه ۲ میل، توپ هاوان ۱۲۸ پایه، تفنگ امریکایي یك میل، مارکول ۱۰۵ میل، ماشیندار برنو ۶۲ میل، پیشه ۵۹ میل، تفنگ یازده تکه ۸ میل، تفنگ کره بین ۲۶ میل کلاشینکوف ۵۰۴ میل، ام سي ۴ میل، گرونوف ۱۲ پایه ، راکت مرشك ضد تانك یك پایه، بي ام یك ۲۱ دستگاه ، بي ام شانزده ، یك دستگاه، سکریست یك دستگاه لوانداز یك دستگاه ، بم دستي ۵۴ عدد ، تفنگچه ۶۲ قبضه، موتر ۴ عراده و چندین موتر مواد و مهمات لوژستیکي به دست پر توان نیرو هاي اردوي اسلامي افتید که به دیپو هاي مربوط انتقال شد .

د کرهنې وزیر محترم ...

۱۳۷۱ کا پورې مې د کندهار د ولایت د ارغنداب د ولسوالي مربوط د قائز الرحمن د جبهې د عمومي قوماندان په توګه مسؤولیت تر سره کېږدي . خو د نجیب د حکومت له سقوط وروسته چې د تنظیمونو تر منځ بې مفهومه جګړې پیل شوې نو زه کرار په کور کېښناستمه تر دې چې د طالبانو اسلامي تحریك پاڅون وکړ

پوښتنه : په خواشیني سره وینو چې ستاسي پښه هم قطع شویده که پدې اړه معلومات راکړې .

ځواب : د اسلام په لاره کې قرباني د هر مسلمان لمړي هیله ده موږ چې کله د روسانو او کمونستانو په ضد جهاد کاوه او یا یې اوس د فتنې او فساد په مقابل کې کوو هره شیبه د شهادت انتظار کې یو . په تاسف سره باید ووایم چې زما سر تر اوسه ددې وړ نه دې ګرځیدلي چې لوي خدای«ج» یې په خپله لاره کې ومني. خو له لوي خدای نه راضي یم چې یو بریالي چانس یې را په برخه کړ او په ۱۳۷۳ کال کې کله چې د مسعود او کمونست باباجان د ملیشو په مقابل کې جنګیدلو نو د سنګ نوشتې او قلعچې منځ سیمه کې د یو ماین د انفجار په واسطه اللهوج» زما ښې پښه په خپل دربار کې قبوله کړه او دا زما د ژوند یوازیني افتخار دي .

پوښتنه :
د خپلو فعالیتونو او کارونو په هکله لنډ معلومات راکړې .

ځواب : تاسي پوهیږې چې افغانستان زراعتي هیواد دي او اقتصادي چارې یې په سلو کې ۸۵٪ له همدې لارې اکمالیږي . افغانستان تقریباً اته میلونه هکتاره د کښت وړ مځکه لري خو د ګهو ستونزو له امله اوس یوازې ۳۸۰۵۰۰۰ هکتاره کرل کیږي خو ښه او ورځ موږ کوښښ کوو چې هم د مځکي محصول زیات شي او هم ډېره مځکه اباده شي او باغونه او ځنګلونه سمسور شي، موږ په دې اړه د خپلو فني ماموریتو په واسطه د راډیو له لارې، د شخصي تفاهم او هم د مطبوعاتو له لارې د کښت ښې لارې چارې د افاتو او ناروغیو د مخنیوي طریقې خلکو ته ښیو، همدا راز تر خپله وسه کوو چې د افاتو ضد د.ملوته او اصلاح شوي تخمونه خلکوته تهیه کړو ، زموږ د هاند او هڅو له امله سږ کال په کندهار کې ۲۰۰۰ هکتاره په هرات هلمند، فراه او ارزګان کې تقریباً ۲۵۰۰۰ هکتاره ځمکه کرنې ته اماده شویده موږ سږ کال ۵۰۰۰۰ مثمر او ۲۵۰۰۰ غیر مثمر نیالګي کروندګرو ته ورکړېدي او د راتلونکي کال لپاره مو د لس میلونو ونو تخمونه کرلي دي موږ کوښښ کوو چې خپلو درنو هیوادوالو ته د ډېر خدمت مصدر وګرځو همدا اوس په ننګرهار، کابل، غزني ، پروان، هرات او فراه کې د زراعتي میکانیزوله لارې د مځکو د یوې او کرلو لپاره خلکو ته تراکتور ورکول کېږي .

پوښتنه: افغانان ددې استعداد لري چې ښاړې ابادي کړي د بېلګې په ډول ویلې شو چې زموږ مسلمان ورونه د روسانو او کمونستانو د ظلم له لاسه پاکستان ته مهاجر شول نو د پاکستان هغه دښتې او صحراوې یې چې اباد ول یې ډېر ستونزمن کار وو او د ماړانو او لړمانو ځایونه ګڼل کېدل په خپل همت او خولو تویولو یې له دې چې ځوك وروسره د وسایلو او وسایطو مرسته وکړي په بشپړ ډول ابادې کړي نو زموږ حکومت کــه پخپله د مځکو د ابادۍ امکانات او توان نه لري نو ایا ښه به نه وي چې دا مځکي په غریبو او دهقانانو وویشل شي چې له یو خوا ولس ته کار پیدا شي او له بلې خو دا شاړې مځکې هم ابادې شي.

ځواب : دې کې شك نشته چې افغانان زیارکښ او زحمت کښې خلك دي او د شاړو مځکو د ابادولو قابلیت لري د اسلامي دولت مخه هم دې خواته ډېره ده خو په تأسف سره باید ووایو چې د روانو جګړو له امله هرڅه له منځه تللي دي د زمینداړو او بې ځمکي خلکو دقیقه احصائیه نشته د مستحقو او نا مستحقو خلکو تمیز ستونزمن کار دي . همداراز په ډېرو ولایاتو کې دولتي اسناد یا سوځیدلي او یا خو په نورو لارو له منځه تللي دي چې دې کار هم لوي مشکل پیدا کړېدي. موږ کوښښ کوو چې لمړي اساسي ستونزې حل کړو او بیا له شرعي او عدالتي اصولي سره سم په دې اړه ګام واخلو چې جناب عالیقدر امیر المؤمنین په دې اړه موږ ته هدایت هم کړېدي او ددې پروسې په کیفیت او کمیت باندې کار هم روان دي .

پوښتنه : د دولتي زراعتي فارمونو او مالدارۍ په ځانګري ډول د ننګرهار د فارمونو د احیا، لپاره څه تصمیم لرئ

ځواب : موږ غواړو څه ډول چې پخوا د هیواد له فارمونو ته کار اخستل کیده بیا یې هماغسې اباد کړو چې په دې لارکې ډېر زیات کار هم شویدي مثلاً په هرات کې د هزار جریب فارم د فلاحت فارم، په غزني کې د جنګل باغ فارم په پکتیا کې تیره باغ په کابل کې بادام باغ قرغې، ریشخور، ده دانا او واصل آباد فارمونه په هلمند کې د مالداري فارمونه د بولان او ګارګین فارمونه په کندهار کې کوکران او د ترنك فارمونه د یغمان د ګذرګاه واکسین جوړونې ودانۍ چې همدا اوس ترمیم شول عملاً یې به کار او تولید پیل کړېدي موږ کوښښ چې نور یې هم په عصري وسایلو مجهز کړو او د ننګرهار فارمونو ته مو هم خاصه توجه ده او مسؤولو اداروته یې موږ امر کړېدي چې د زیتونو ، مالټو او نارنجانو قوري جوړې کړي تر څو دا فارمونه بیا فعال شي تاسي خبر یاست چې دا فارمونه د ځینو قوماندانانو لخوا غصب شوي و چې دا مشکل هم تر یوې اندازې حل شویدي او نور به هم حل شي .

پوښتنه : تاسې پوهېږئ چې زرعي پیداوار لکه د وریښمو چنجي ، همدا راز د انګورو، ممیزو، کینو مالټو، مڼو، زیتونو صادراتو زموږ د هیواد د اقتصادي نظام د ملا تیر حیثیت درلود اوس چې دا هر څه د نشت برابر دي نو تاسو ولس او کروندګرو ته څه اطمینان ورکوئ ؟

ځواب افغانستان الحمد لله اوس هم ۱۱۲۰۰۰ ټنه تازه انګور، ۴۲۰۰۰ ټنه انار تقریباً ۸۵۰۰۰ ټنه وچه میوه بهرته صادر کړیده خو زموږ ترجیح دا ده چې لمړی باید پخپله افغانستان د زراعتي موادو له لحاظه خو د کفاشي او فابریکو ته یې هم لکه لبلبو(چغندر) پنبه او داسې نور مواد زیات شي چې لمړي مو خپلې فابریکې فعالې شي او بیا بهرته صادرات پیل شي .

پوښتنه : زموږ د هیواد شرایط هم جنګي دي او د افغانستان په اړه د ګاونډیو او سیمه ایزو هیوادونه سیاستونه هم مقطعي دي او اقتصادي رغښت د یو ملك د سیاسي نظام د استحکام لپاره اساسي فکتور دي نو تاسو د هیواد د خود کفایي لپاره څه قدم اخستې دي ؟

ځواب : باید ووایم چې ځنو هیوادونو د حقیقت په نه درك کولو او ځنو د نورو سیاسي او مذهبي ملحوظاتو له مخې زموږ سره تریګښې را اخستې ده زموږ د کمزورۍ کولو لپاره هر ډول دسیسې کاروي خو زه باور لرم چې د افغانستان مسلمانان به د اسلام د صدر تاریخ تکرار کړي یعني تبرې به تر خیټو پورې وتړي خو د اسلام او وطن دښمنانو ته به د تسلیمي سر ټیټ نه کړي او اسلامي دولت هم د ملت د خدمت لپاره مټې را بډ وهلي دي چې اوس هم افغانستان دځنو موادو له مخې په ځان ویسا (خود کفا) دي او انشاء الله چې د دولت او ولس دګړو هڅو په نتیجه کې به په راتلونکو پنځو کالوکې افغانستان بالکل په ځان ویساشي .

پوښتنه : ملګرو ملتونو او نورو زراعتي موسسونه مو په دې اړه څه همکاري غوښتې ده که نه که غوښتې مو وي نو د هغوي غبرګون په دې اړه څه ډول دي او کــه نه وي غوښتې مو نه وي وجه یې څه ده ؟

همدا راز ووایاست چې دا موسسې خو د زراعت په هکله میلونونه ډالره بودیجه لري تاسې د هغوي له فعالیتونو نه مطمئن یې او که نه ؟

ځواب : موږ ټول خیریه موسسو ته بلنه ورکړیده چې په عمومي ډول د هیواد په ودانولو او په ځانګړي ډول دکرهنې په برخه کې زموږ سره خپلې بې غرضه بشردوستانه مرستې وکړي خو متأسفانه چې هغوي د مذهبي او سیاسي ملحوظ په وجه پلمې کوي او په رښتوني ډول کار نه کوي د دوي زیاتې پیسې د کور په کرایه، د الوتکو په ټکټ ، د موټړ واود فتو په خرڅ مصرفیږي

حتی موسسې چې محدود کارته حاضري هم شي په خپل سر او د دولت د چوکاټ نه بهر کار کوي چې د هیواد د خدمت په ځای د ځوتو خدمت کوي

او د ملګرو ملتونو په هکله هم باید ووایم دا اداره هم اوس خپل فرائض لکه څنګه چې لازم دي نه تر سره کوي او د نورو په لاس کې لوبېږي .

پوښتنه : د کانالونو، نهرونو، ویالو د ترمیم لپاره څه پروګرام لرئ؟

ځواب : که څه هم دا د اوبو او برېښنا د وزارت کار دي خو بیا هم زموږ د ګډ تفاهم په نتیجه کې ډېر کانالونه پاك او ډېرې دروازې ترمیم شویدي اوپه نظر کې لرو چې که امکانات موجود و نو فراه رود او خاشرود باندې هم بندونه وتړو چې د فراه او نیمروز پراخې دښتې خړوبې کړي .

پوښتنه : زموږ د هیواد ډېره برخه چې پخوا کرل کیدله یا د مینونو یا د نورو مختلفو عواملو له امله شاړه شویده تا سوله کروند ګرو سره په دې اړه څه مرسته کوئ؟

ځواب : د مینونو د پاکولو په هکله خو د ملګرو ملتونو د مین پاکولو موسسې تر یو حده کار کړېدی خو کله چې هره سیمه فتح شویده هلته موږ هم په زراعتي مځکو کې د امکان تر حده د دفاع د وزارت ټانګونه ګرځولي ، او په دې اړه [illegible] بریالیتوب نظامي ورونو ته غواړم .

پوښتنه : وواياست چې پخوا به حکومت کروند ګروته نقدي پور ورکاوه، د کود ، تخم زراعتي ماشین الاتو، وسایطو او نیالګیو مرسته به یې ورسره کو له تاسې په دې اړه څه تصمیم لرئ ؟

ځواب : پخوا د کرهنې د پراختیا بانك موجود وو چې تقریباً نیمه پانګه یې بهرنی وه او افغاني بزګرو ته به یې تخم، کود او نور سامان الات پور ورکول خو اوس نه ملګرو ملتونو په دې اړه توجه کړیده او نه هم بل چا خو د افغانستان اسلامي دولت تصمیم لري چې پخپله «سپما بهي» ومني او په ارزانه بیه هیواد والو ته ضروري مواد تهیه کړي چې په ځنو ولایاتو کې دا کار روان دي .

پوښتنه : د شریعت اوونیزې د خپرونو په هکله ستاسې نظر څه دي ؟

ځواب : شریعت اوونیزه د اسلامي حکومت او مظلوم ملت د اواز اوچتولو او د ارمانونو د انعکاس یوازیني ذریعه بولم زه ددې اوونیزې ټول مطالب په ډېره دلچسپی سره لولم او په راتلونکي کې هم ورته لا بریالیتوب غواړم .

د احمدشاه ابدالي دپوهنتون...

منځ کې سره را ټول شول او ددې پوهنتون بنسټ یې کېښود.

لطفاً ددې پوهنتون د محصلینو د شمیر او د تشکیلاتو او تعیناتو په هکله معلومات راکړئ ؟

ځواب : د احمد شاه ابدالي پوهنتون پنځه پوهنځي انجنیري، شرعیات، زراعت ، طب حقوق او سیاسي علوم لري او ۹۹۵ تنو محصلینو ته د ۵۴ تنو استادانو لخوا تدریس کیږي . دا پوهنتون فعلاً د نورو ضروري وسایلو برسېره لابراتوار ، کتابتون، پولي کلنیك او یو لس بستریز روغتون هم لري .

پوښتنه: کندهار او کابل ته ستاسو د اوسني سفر هدف څه شي دي ؟

ځواب : تاسي ته معلومه ده چې د احمد شاه ابدالي پوهنتون دري کاله وړاندې په هجرتکده (پېښور) کې تأسیس شو او په نږدې راتلونکي کې به ټولنې ته د دریو پوهنځیو (شرعیات، زراعت ، حقوق او سیاسي علوم) چې په مسلکي زده کړو او عالي او اسلامي روحیې سمبال دي د خدمت لپاره وړاندې کړي نو ددې لپاره چې ددې فارغانو بري لیکونه قانوني او رسمي بڼه پیدا کړي نو دا ضرور ده چې د یو با صلاحیته ارګان (د لوړو تحصیلاتو د وزارت د مقام لخوا) فارغینو ته ورکړل شي د لوړو مقاماتو سره د تماس او د پوهنتون اداري او تدریسي هیئت او محصلینو د نیکو هیلو، او له اسلامي دولت سره د پوهنتون د مشوېښو د تنګې او ملاتړ اعلان په خاطر او د دې لپاره چې موږ خپلو مشرانو ته ډاډ او اطمینان ورکړو و چې موږ هم د اسلامي تحریك سپاهیان یو او د طالبانو له حقې مبارزې او اسلامي پاڅون څخه په کلکه دفاع کوو .

همدا راز ومو غوښتل چې له خپلو مشرانو سره پوهنتون ته د رسمي بڼې ورکولو او د پوهنتون د راتلونکو دندو او مسؤولیتونو په اړه هم تفاهم وکړو او هدایات ترې وغواړو.

پوښتنه : نو د پوهنتون د رسمي کېدو کمپاین موږ کومه حده پر مخ بوولي دي ؟

ځواب : موږ چې په قندهار کې له عالیقدر امیر المؤمنین سره وکتل او خپلې ستونزې مو ورته و اوورولې نو دوي زموږ کار سرپرستي شورې ته راجع کړ. زموږ او د سرپرستي شورې له مفاهمي وروسته د محترم عالیقدر امیر المؤمنین د هدایت د تعمیل په منظور سر پرستي شورې زموږ کار د لوړو تحصیلاتو وزارت ته راجع کړ اوس زموږ کار د لوړو تحصیلاتو په وزارت کې دي .

همدا راز موږ په قندهار کې د قندهار پوهنتون له رهبري سره هم وکتل او د دواړو پوهنتونونو د ګډې همکارۍ وعدې او په اسلامي او مسلکي زده کړې د ځوانانو د روزلو په هکله مو د نظر تبادله هم وکړه چې زموږ د سفر پوره جریان د شریعت غږ راډیو او طلوع افغان د جریدې له لارې اعلان هم شو .

اثریکه قدامت تاریخي آن...

زبان بابلي قدیم و آسور ، مربوط قرن ۶–۷ قبل از میلاد میباشد . منبع افزود این اثر غناي بزرگ تاریخي را نصیب کشور ما مینماید . این اثر قدامت تاریخي کشور عزیز ما افغانستان را به کهن ترین مدنیت هاي مشرق زمین هم طراز نموده است ، قرار است بمنظور مطالعات مزید و تحقیقات علمي بیشتر در مورد این اثر (کتیبه) بادانشمندان بزرگ جهان چون پروفیسور پیوار در لندن ، نیکولاس سمس ویلیام ، پروفیسورخایمار متخصص مطالعات سومریو بابلي تماس حاصل اید

د صفیه صدیقي ...

له وطن او اسلام سره د دوي د مینې ښکارندوي دي .

د لوېږي نه را پدېخوا د لس کلن شعري بهیر په اوږدوکې چې دا شاعره د هیواد په روان ناورین او غمیزې څومره چغېدلي ده د شعر په ژبه یې هیواد وال د وطن ابادۍ ته هڅولي دي . په دې موده کې د صفیې شعري استعداد د تکامل څومره پړاوونه وهلي (نالوسته کتاب) کې له ورایه ښکاري .

یوازي د اوښکو تویولو په ځای د اسلام وطن او ملت د خدمت او د ښکیلاك له ناپاکو منګولونه د خپل ټاټوبي د ژغورلو لپاره عملي ګام پورته کولو ته هیواد والو ته بلنه د صفیې د شاعرۍ ځانګرنه ده .موږ په داسې حال کې چې نالوسته کتاب د پښتو او جهادي ادب په پانګه کې یوه با ارزښته اضافه بولو د پښتو ادب ، د جهاد او مبارزې لارویانو، د شعر مینه والو او په ځانګړي ډول صفیه صدیقي ته چې د شریعت اوونیزې قلمي همکاره ده ددې مجموعې د چاپ مبارکي وایو هیله لرو چې ددې شاعرې د استعداد او غښتلي قریحې د ځپانده سمندر شور به د حقې بیړۍ د سپرلۍ په غوروونکي چې اسلامي او ملي حسنو نه تعقیبوي د خپرو انګازو پژواك نور هم پیاوړې کړي او د نجات ساحل په لور د لا چټکتیا په پروسه کې به ترې تللین او الهام واخلي .

د هیواد په مختلفو برخو ...

شوي وي ، قومي مشرانو علماؤ ، سپین ږیرو او روحانیونو په کې ګهون کړې و ویناوالو د سرو کمونستانو او د هغوي د ائتلافیونو ظلمونه او خیانتونه یاد کړل او له اسلامي دولت سره یې خپله بشپړه همکاري او ملاتړ اعلان کړ .

د کابل ښار په درېیمې

دا پارك د ماشومانو لپاره د لوبې اووم پارك دي چې د کابل ښار په بیلابیلو ناحیو کې د ماشومانو د ساتنې د موسسې او د کابل ښاروالۍ په مرسته بیا جوړ او پرانیستل شول .

د ګڼون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ میاشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

یادونه

ښاغلي ستاسو ایمان په اجازه درنکړې چې دا ډول سپېڅلي پاڼې په ناوړه ځایونو کښې وغورځوي.

(اداره)

دولت اسلامي دفاع از نوامیس دیني و ملي را از واجب ترین واجبات خود مي پندارد

دولت اسلامي به حیث اولین مرجع و مقام مسؤول در مقابل خدا و ملت مکلفیت دارد که از نوامیس دیني، ملي و شخصي ملت خود به وجه اتم و همه جانبه دفاع نموده و نگذارد که نوامیس ملت ما دستخوش هوس هاي حیواني بي شیاطین داخلي و خارجي گردد .

هر ملك وکشور داراي ضوابط و روابط دیني ، اخلاقي، فرهنگي، ملي و اجتماعیي بوده که احترام و عدم متعرض شدن به آن از مسؤولیت هاي فردي و اجتماعي دیگران پنداشته میشود . ملك و کشور ما که الحمد لله یك کشور اسلامي بوده و همه زندگي هاي شخصي ، فامیلي ، اجتماعي ، سیاسي و دولتي افراد این ملك و کشور در ظل و سایه شریعت اسلامي رهبري و حفاظت گردیده و به احد تحت هیچ نام و عنوان اجازه داده نمیشود که به آن متعرض گردد .

دولت اسلامي با درك وجایب و مکلفیت هاي که در قبال جامعه جهاني دارد متوجه بوده،به همه حقوق و مصؤنیت هاي اتباع خارجي که در این کشور مصدر خدمات مختلف میشوند احترام داشته صیانت و حفاظت آنان را از مسؤولیت هاي خود میداند . اگر احیاناً چنین حرکت مذموم ، رذیلانه و خلاف همه روابط ، ضوابط و مقررات جامعه جهاني که احترام به مقدسات و احساسات دیني و ملي کشور ها در آن پیش بیني شده از جانب احدِ از تبعه خارجي سر زند دولت اسلامي به قاطعیت هر چه تمامتر از آن جلوگیري نموده و در مقابل مرتکبین آن از هیچ نوع اهمال و اغماض کار نگرفته و نباید بگیرد . طوریکه هموطنان ما آگاهي دارند و یقیناً به حساسیت هر چه تمامتر جریان را تعقیب و تحت نظر خواهند داشت که چند روز قبل مؤسسه خارجي که تحت نام و عنوان «مبارزه با گرسنگي!!» در کشور ما از قبل فعالیت دارد ، دست به یك حرکت ضد دیني ، ملي و اخلاقي زد که به هیچ نوع و شکلي با ایجابات وظیفوي آنها ربطي نداشته و تخطي صریح از مکلفیت هاي بین المللي و اخلاقي اوشان و مقررات دولت اسلامي پنداشته شده و تجاوز صریح و بیباکانه بر حریم مقدس نوامیس ملت ما محسوب میگردد که در اولین وهله به برخورد قاطع و غیورانه ئي نیرو هاي آگاه و حساس امنیتي کشور ما که پاسبانان نوامیس دیني و ملي جامعه میباشند مواجه شده متخلفین و مجرمین دستگیر و به مراجع عدلي و قضایي کشور سپرده شدند .گرچه نیات، وجه و طریق کار چنین موسسات که تحت پوشش ملل متحد و یا سایر مراجع و ادارات حکومتي و شخصي در جهان زیر عناوین گوناگوني فعالیت دارند از انظار بسیاري از هموطنان ما پوشیده نبوده و نخواهد بود و به یقین اوشان پي برده و آگاهي خواهند داشت هستند از این مؤسسات و ادارات که به اشکال مختلف از مجبوریت ها و نا توانی هاي مختلف مستضعفین و بیچاره ها در گوشه و کنار جهان استفاده به خصوصي برده ، در انحراف دیني و اخلاقي ملت ها به نفع خود کوشا میباشند و بخشي اعظمِ امکانات مالي که در اختیار اوشان گذاشته میشود مصرف خدمات ترانسپورتي خیلي مدرن و شیك و معاشات گزاف و در سایر موارد شخصي اوشان به کار گرفته میشود و به اصطلاح «از گاو غدود» به محتاجان و مستحقین اصلي چنین کمك ها داده میشود .

خلقت و فطرت، ملت ما را از سایر ملت ها که زیاده تر نوازش و حصه داده است همانا «غیرت» بوده که الحمد لله ملت ما به شهادت تاریخ ، اقرار و اعتراف دوست و دشمن در اینمورد سر آمد همه اقران و معاصرین خویش بوده و میباشند که این احساس عالي و شریف در اوشان از این گفته و مقوله مشهور : «هر چه از سر قربان و سر ازناموس»

بلي ! ملت قهرمان افغان در طول تاریخ به آزمایش ها و ابتلأت مختلف و گوناگوني مواجه گردیده به صبر ، پایمردي و استقامت در مقابل آن آزمایش ها و حوادث جوابگوي شده اند و نگذاشته اند که از مجبوریت هاي اوشان استفاده غیر اخلاقي ، غیر دیني و ملي برده شود . ملت مسلمان افغان که به دشوار ترین ابتلأ و آزمایش الهي و تاریخ در این دو دهه اخیر گیر آمدند و غرض نجات از آن از هیچ نوع ایثار و فدار کاري دریغ نورزیده و به فدا کردن ملیون ها تن از زن و مرد پیر و برنا این کشور خواسته اند که از حریم نوامیس دیني ، ملي و شخصي خویش دفاع نمایند طوریکه مردانه وار دفاع نموده اند. گرچه در این راه همه هست و بود مادي و معنوي خویش را بیدریغ قربان داشته اند « جزا هم الله خیرا » و از این ناحیه به بزرگترین فقر و فاقه دست و گریبان گردیده و از ابتدائي ترین وسایل و امکانات زندگي اکثراً برخوردار نمي باشند و یقیناً به کمك هاي جامعه بشري نهایت ضرورت دارند . این به این معني نخواهد بود که آنها خداي نخواسته به قیمت نوامیس خود آن جیفه «کمك ها» را بدست بیاورند و یا حساسیت خود را در راه دفاع از نوامیس دیني ، ملي و شخصي از دست داده باشند و بگذارند که نوامیس آنها دستخوش هوس هاي شیطاني کافر هاي خارجي و یا طواغیت داخلي گردد «نعوذ بالله منه» .

تحریك اسلامي طالبان و دولت اسلامي ما که از متن ملت و آغوش کشور قد علم نموده هدف و وظیفه اش دفاع از نوامیس دیني ، ملي و شخصي ملت غیور افغان میباشد که در این راستا و در این مورد هیچ چیز و هیچ ملحوظ دیگر را به جز این هدف و آرزوي مقدس خیر و مصلحت نپنداشته و به هیچ معامله ئي به این ارتباط تن نداده و هیچ ایجاب مصلحت را بالا تر و شریف تر و مناسب به حق خود و ملت خود از این کرده نمیداند که از نوامیس اوشان به جان و مال دفاع نماید .

این واقعه دلخراش نشان داد که کنترول مباشر و هرچه بیشتر فعالیت ها و پلان هاي مالي ، اداري و... این قماش موسسات خارجي که تحریك از قبل به ضرورت و اهمیت آن اشاره کرده بود معقول و حتمي پنداشته میشود .

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Movement of Taliban - Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Add: House # 520, str#11,
Wazir Akbar Khan Minah,
Kabul - Afghanistan, Tel # : 21381
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar